ناول
۲

له مثبت پیغام سره ادبیات
د ماشومانو او تنکیو ځوانانو له پاره ځانګړی رمان

# سوله او طبیعت

## نعیمه غني



ACKU

سوله او طبیعت

نعیمه غني

پرله پسې شمېره: ۳۷۷

د لوی او مهربانه خدای په نامه

# سوله او طبیعت

نعیمه غني

خوا کمن
توانا

**له مثبت پیغام سره ادبیات**
د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لەپاره ځانګړی رمان

ناول
۲

## د کتاب ځانګړنې


**سوله او طبیعت** (د ماشوم او تنکي ځوان د ادبي جشنوارې لومړنۍ ټاکنه توانا/ ځواکمن)

**لیکواله:** نعیمه غني

**سموونکې (اېډېټر):** اسما کاکړ

**د پښتې طرح او انځورګره:** تورپیکی نثار

**د پاڼو جوړونه:** رضا رضایي

**پرله پسې شمېره:** ۳۷۷

**د مخونو شمېر:** ۱۰۳

**چاپ شمېر:** ۴۰۰۰ ټوکه

**خپرندوی:** په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU)

**لومړی چاپ:** ۱۳۹۷هـ.ل. (۲۰۱۸ز) کابل – افغانستان

**برېښنالیک (ایمېل):** publication@acku.edu.af

**وب پاڼه:** www.acku.edu.af

**شابک:** ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۰۷-۷۷-۴/ ISBN 978-9936-607-77-4

**د پښتو ژبې داوران:** نصیراحمد احمدي، شریفه پاځون او علم ګل سحر



- **د جشنوارې مسوول:** کاظم‌حمیدي- رسا
- **همغږی‌کوونکی:** رضا نوري
- **علمي شورا:** انا صفري، عبدالوحید وفا، فیض محمد نایاب-عطایي، رشمي دانګل، محمدانور وفاسمندر، ضیا رفعت او لعل اقا شیرین.
- **مالي څانګه:** عبدالستار اعظمي
- **د تدارکاتو څانګه:** حامد نیازي
- **توزیع:** زینت‌الله قانت او محمدفیاض ستانکزی

- د چاپ حق د خپروونکي لەپاره خوندي دی.
- د کتاب له مطالبو څخه د ماخذ په ذکر کولو سره ګټه اخستل مجاز دي.
- لیکوال د کتاب د منځپانګې مسوول دی. منځپانګه په الزامي توګه د ACKU نظریاتو څرګندویي نه‌کوي.

## د خپرندوی خبرې

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره د ادبي اثارو پنځول یوه جدي اړتیا ده او دا کار د هغوی په روزنه او فکري وده مثبته اغېزه لري. د دوی لپاره د مطالعاتي منابعو چمتو کول او د ماشوم د ادبیاتو غني کول مهم ګڼل شوي او دا کار رغنده تاثیرات لري. تر دې دمه د ماشومانو لپاره د شعر برخه یو څه تمه بخښونکې ده، خو داستاني ادبیات په نشت ګڼل کېږي. په حقیقت کې د ماشوم لپاره د داستان لیکنې هڅې تر ډېره د لیکوالو او فرهنګي بنسټونو له ذهنونو وتلې دي او هغه څه چې په دې برخه کې باید تر سره شوي وای، ډېر کم تر سترګو کېږي.

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز یو غیر انتفاعي بنسټ دی چې له دوو لسیزو را هیسې یې د خیر ښېګڼې له نورو خدماتو سره د افغان ماشومانو او لویانو لپاره ګڼ شمېر کتابونه چاپ کړي او په دې برخه کې له خپل وس او توان سره سم فعالیت کوي. دوی غواړي چې په افغاني ټولنه (ماشومانو او لویانو) کې د کتاب لوستنې فرهنګ پیاوړی او خلک له فکري اړخه وروزي.

په دې هېواد کې د کتابونو او په خاصه توګه د ماشومانو د کتابونو د چاپ او په دې برخه کې د لیکنو برخه خواره ده او تر دې دمه لا د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د فکري ودې لپاره جدي او اساسي کار نه دی شوی.
د افغانستان د معلوماتو مرکز همدې تشې ته په کتلو سره ځینې ګامونه پورته کړل چې یو اساسي ګام یې دا و چې افغان لیکوالان وهڅوي؛ تر څو ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته کیسه ایز کتابونه ولیکي. دې مرکز د ۱۳۹۶ لمریز کال د لړم یا عقرب په میاشت کې د ماشومانو لپاره د داستان لیکلو عمومي سیالي پر لاره واچوله. دوی لیکوالان وهڅول چې د ماشوم لپاره په پښتو او فارسي ژبو کیسه ایز کتابونه ولیکي. دې جشنوارې داسې شرایط نه درلودل چې لیکوالانو ته سخت وي او دوی د داستانونو لیکلو ته زړه ښه نه کړي.
د دې جشنوارې هدف دا و چې افغان لیکوالانو ته د دې زمینه برابره شي؛ تر څو د ماشوم د ادبیاتو د ودې لپاره یو څه وپنځوي او په دې توګه خپله ادبي وړتیا، خلاقیت او له لیکنو سره مینه لا پیاوړې کړي.
د دې جشنوارې عمومي اهداف:
۱: په افغانستان کې د لیکوالانو ملاتړ او تشویق؛ تر څو د ماشوم لپاره جذاب، زړه راښکونکي او داسې داستانونه ولیکي چې له خوند سره تعلیمي پیغامونه هم ولري.
۲: ماشومانو او تکنیو ځوانانو ته د داسې داستانونو پنځول چې سوله ایز مفاهیم ولري، دوی د یوبل منلو ته راوبولي، په دوی کې د تحمل، صبر، جنسیتي برابرۍ...درک پیاوړی کړي. دا کتابونه په ساده ژبه لیکل شوي

او له ۹ تر ۱۲ کلنو ماشومانو لپاره دي.
۳: افغان ماشومانو ته د پیاوړتیا احساس ورکول او د لوستلو له لارې د دوی د زده کړې او لوست د مهارت وده.
له نېکه مرغه دا جشنواره د برخه اخیستونکو له خوا ښه استقبال شوه.
د افغانستان له بېلابېلو سیمو څخه ډېرو لیکوالو ګډون پکې وکړ او په پښتو او فارسي ژبو یې خپل داستانونه را ولېږل.
د افغانستان د معلوماتو مرکز اړ و چې د را رسېدلو داستانونو د څېړلو او ارزونې لپاره داوران وټاکي او له هغو کسانو سره مشوره وکړي چې په داستاني ادبیاتو پوهېږي. دوی په ګډه د دې اثارو د ارزونې او شفافیت لپاره یو دقیق معیار او میکانیزم جوړ او په دې توګه یې تر ډېره را رسېدلي داستانونه د ټاکل شویو ستندردونو له مخې وارزول.
له سخت کار او دقیقې ارزونې وروسته درې په پښتو او درې په فارسي ژبه لیکل شوي داستانونه د مقام وړ وګڼل شول.
د افغانستان د معلوماتو مرکز د داورانو نظریاتو ته په درنښت، په پام کې لري چې درې فارسي او درې پښتو اثار چاپ کړي.
درانه لوستونکي او د ماشوم د ادبیاتو د برخې کارپوهان کولای شي چې د کارونو د لا ښه والي په اړه خپلې اصلاحي نیوکې او نظریات له موږ سره شریک کړي.

۱

پاچا زړه ور ستړی، ستومانه پر خپل سوربخون اس، چې بخمل نومیده سپور، او له یوه اوږد لښکر سره د غرونو د وطن د ښار پر دروازه راننوت. پاپي یې هم تر شا روان و او ببره لکۍ یې خوځوله. پاپي د پاچا وفاداره سپی و، چې پاچا یې د چالاکۍ او کوچنۍ بڼې له امله پاپي باله. د ښار خلک د پاچا مخې ته په خوشحالۍ راټول شوي وو، هر چا له بامه، کوره،



دروازې او د لارې پر سر پاچا ته د سترې مشې او ښه راغلاست نارې وهلې. ماشومانو په لاسونو کې رنګارنګې جنډې نیولې او ښورولې یې، تر څو په دې توګه یې د خپل مهربانه پاچا هرکلی کړی وي. د خلکو په خوله د رضایت خندا وه او له ځیرو یې داسې ښکاریدل، چې ټول د پاچا راتګ ته د یوې لویې او حیرانونکې خوښۍ په سترګه ګوري.
هو رښتیا تاسو خو زړه ور پاچا نه پیژنئ، ښه نو:
پاچا زړه ور څو میاشتې د مخه د پاچا، نازولی شهزاده و، چې د ژوند د ناخوالو په اړه یې ډېره اندیښنه نه درلوده او پاچا د بل هر نازولي شهزاده په څیر وربانديې ډېر پام کاوه. د زړه ور مور هغه وخت چې زړه ور ډېر کوچنی و، مړه شوې وه او د زړه ور نه وه په یاد. زړه ور بله خور او ورور هم نه لرل. د هغه پالونکې یوه مهربانه سپین سرې ښځه وه، چې زړه ور به بوډۍ ترور او د ښار خلکو به هوښیاره بوډۍ بلله. هغه رښتیا هم یوه هوښیاره او په ډېرو خبرو پوهه ښځه وه.
زړه ور هم په دې خبره ښه پوهیده، او کله به یې چې ستونزه درلوده، نو بوډۍ ترور به د هغې ستونزې لپاره د حل یوه لاره پیدا کوله.
هوښیارې بوډۍ به په زړه ور ډېر پام کاوه او ورته ډېر ګران و.
په زړه ور هم بوډۍ ډېره ګرانه وه، که څه هم په ماشومتوب کې به کله نا کله بوډۍ ترور په ځینو خبرو هغه ته به قاریدله او سختې خبرې به یې ورته کولې، خو اوس چې زړه ور را لوی شوی و نو د هغې مهرباني یې

تر قهره ډېره په زړه وه او د هغې د مهربانۍ په اړه به يې هر وخت ويل: د بوډۍ ترور مهرباني لکه د ژمي د لمر په څير ده، چې نه غواړې مخامخ ورته وگورې خو د هغه تودوخه دې پر شا ډېره ډاډمنه او خوندوره لگيږي.

زړه ور د بوډۍ مهرباني، ملاتړ او مشورې هيڅکله نه شواى هيرولی، او اوس چې زړه ور پاچا شوی و نو هوښيارې بوډۍ او د هغې لارښوونو ته يې تر بل هر وخت ډيره اړتيا درلوده. هر کله به چې زړه ور ته د پاچاهۍ په کارونو کې کومه ستونزه ورپيښه شوه نو د سمې لارښوونې او مشورې لپاره به له هر چا نه د مخه هوښياره بوډۍ ور په زړه شوه.

د بوډۍ خاوند او اولادونه مړه وو او يوازې يوه لمسۍ يې درلوده، چې (سوله) نوميده. سوله هم څو کاله پخوا يو مازديگر چې کله يې له خپلو همزولو سره لوبې کولې، له ښار څخه ترې تمه شوې وه. هوښيارې بوډۍ او د پاچا عسکرو هماغه وخت د هغې ډيره پلټنه کړې وه، خو هغه يې نه وه موندلې. اوس نو د ښار خلکو دا گمان کاوه، چې سوله به هيڅکله راستنه نشي.

يوازې بوډۍ او زړه ور تر اوسه هم تمه درلوده، چې سوله به يوه ورځ بيرته راشي. زړه ور به تل سوله په خوب کې ليده او د هغې په ورکيدو ډير خپه و، ځکه سوله د زړه ور او استازي د ماشومتوب ملگرې وه . دوی درې واړو به يو ځای سره لوبې کولې او يوځای سره لوی شوي وو.

استازی ؟

استازی د زړه ور ملګری و، او د پاچاهۍ په کارونو کې يې له زړه ور سره مرسته کوله. استازي توره او لينده نه پيژندل او نه يې هم ترې کار اخيستل،هغه به په خپلو خبرو پاچا خنداوه، خو په هوښيارۍ او ځيرکتيا کې يې هم جوړه نه وه، ځکه خو پاچا زړه ور هغه په خپلو ملګرو کې تر ټولو غوره ګاڼه، په دې معنا چې هغه به د پاچا خبرې تر خلکو رسولې او د خلکو ستونزې او غوښتنې يې بيرته پاچا ته وړلې. استازی د خلکو په منځ کې رالوی شوی و او له بلې خوا د پاچا نږدې ملګری و، ځکه خو د پاچا او خلکو په ژبه ډير ښه پوهيده او د هغوې تر منځ يوې پرانيستې لارې ته ورته و.

همداسې ده چې د غرونو د وطن خلکو ويل، زموږ يو پاچا نه بلکې دری پاچاهان دي، يو زړه ور پاچا، بله هوښياره بوډۍ او دريم هم استازی. هغوی دا خبره د دې لپاره نه کوله، چې د پاچا له پاچاهۍ څخه ناراضه دي، بلکې دا يې خپله نيکمرغي ګڼله، چې پاچا يې يو هوښيار کس دی او د دې پر ځای چې خپلې پريکړې په زور په خلکو ومني، له خپلو مشاورينو سره مشورې کوي او هر څه ته په ځير ګوري.

ښه نو تاسو به وايئ چې زړه ور څنګه پاچا شو؟

زه يې درته وايم: کله چې د زړه ور پلار يعنې مشر پاچا مړ شو، نو خلکو زړه ور د هغه ځای ناستی وټاکه. زړه ور ډير عمر نه درلود، دهغه بريتونه

نوی راغلي وو، داسې لکه چې په پنسل یې د خپلو شونډو پر شا خطونه رسم کړي وي، خو د هغه د پلار نږدې ملګرو، چارواکو او هوښيارې بوډۍ ورسره ژمنه کړې وه، چې د پاچاهۍ په کارونو کې به ورسره مرسته کوي.

خلکو ځکه زړه ور په دومره کم عمر کې پاچا وټاکه، چې د هغه هيواد قانون همداسې وو، چې له پلار څخه وروسته بايد د هغه مشر اولاد پاچا وټاکل شي. زړه ور که څه هم اوس پاچا و، خو د تير په څير به یې له خلکو سره یو ځای ژوند غوره ګاڼه او تل به د خلکو د ستونزو د حل لپاره د هغوی په خدمت کې و.

د غرونو د هيواد پلازمينه،کوم چې زړه ور پکښې حکومت کاوه، يو ښکلی او له خلکو څخه ډک ښار وو، هره خوا يو لاس (منظمې) ودانۍ او کورونه، ښکلي باغونه، د ښار په منځ کې بهانده او مست سيند، هوښيار خلک، د خلکو ښکلې او رنګينې جامې، د ښار شاوخوا هسک او په غرنيو ونو او وښو پټ غرونه او نورې ډيرې د ليدو وړ ښکلاوې يې لرلې، خو هغه څه چې دا ښار يې يوه لوی کورته ورته کاوه ، د ښار شاوخوا راتاو ديوال و، چې خلکو به ورته د ښار کلا ويله، هغه ديوال ښار راچاپير کړی او له نورو سيمو يې جلا کړی و.

د ښار کلا څلور لوړ برجونه درلودل. د څلورو واړو برجونو تر ټولوهسکو برخو کې، مخامخ شاهي ماڼۍ ته څلور لوی لوی ساعتونه لګيدلي وو،

چې د ښار خلکو به د عدالت ساعتونه بلل.

دا ساعتونه ځکه د عدالت ساعتونه بلل کیدل، چې د وخت د ښرګندولو سربیره یې یو بل مهم کار هم کاوه. هغه مهم کار دا و، چې دې ساعتونو به د هیواد د هغې لوري چې ساعت پرې ځړیدلی و حال ښکاره کاوه. یعنې د هیواد ختیځ، لویدیځ، شمال او سویل خواووته لګیدلي ساعتونه به تر هغه چې په هماغه لور کې کراري وه او د خلکو ژوند سم روان و، وخت سم ښوده او پاچا به هغه ته په کتو ډاډه و، چې د هیواد په هغه خوا کې کراري ده او خلک کومه ستونزه نه لري، خو که د هیواد له څلورو خواوو څخه په یوه خوا کې ناکراري، ناروغي، قحطي یا کومه بله بدمرغي یا ناخوښي راتله، نو د هماغه لوري ساعت به هم وخت سم نه ښکاره کاوه او په دې سره به یې پاچا ته خبرداری ورکاوه، چې هلته کومه ستونزه شته او ښایې چې پاچا هغې سیمې ته پاملرنه وکړي. پاچا به هم سمدلاسه له لښکر سره په هماغه لور حرکت وکړ او هلته به یې د خلکو څخه له پوښتنو او مشورو ورسته د هغوی ستونزې حل کړې او ځان به یې ډاډه کړ، چې خلک یې په ارامۍ او سوکالۍ کې ژوند کوي. دا دود د غرونو په وطن کې نوی نه و او دا ساعتونه هم اوسني نه وو. ساعتونه له څو پیړیو راهیسې د ښار په برجونو لګیدلي وو او عمر یې د ښار د ټولو اوسیدونکو له عمره اوږد و. ځینې مشرو ښځو او سړو به کیسې کولې، چې دوی اوریدلي، دا ساعتونه د مشر پاچا نیکه نه دوه دری پیړیه

مخکې د یوه تکړه ساعت جوړونکي په لاس جوړ او د ښار په برجونو لګول شوي دي.
شاهي ماڼۍ هم په زړه وړلو کې له ښاره کمه نه وه او ځانګړې بڼې یې د ښار ښکلا نوره هم ډیره کړې وه.
ماڼۍ د سپینو مرمرو او لاجوردو له تیږو څخه جوړه شوې وه. سپین مرمر د لاجوردو له رنګ سره داسې ګډ شوي او کاریدلي وو چې له لرې به دې ګمان کاوه، چې د شنه آسمان ځینې برخې وریځې پوښلي یا هم لکه له باران څخه وروسته د باران په اوبو مینځل شوی اسمان، چې وریځو ښکلي او رنګارنګ نقشونه پرې جوړ کړي وي. د ماڼۍ غولی په سپینو تیږو پوښل شوی و او په منځ کې یې د پاکو او تازه اوبو یوه ښکلې او پراخه ویاله بهیده، چې په ویاله کې د شنه اسمان انعکاس د هغې د ښکلا انځور له ماڼۍ سره یو شان کړی و. ماڼۍ د یوې لوړې غونډۍ په سر اباده وه، کله به، چې د پسرلي وریځې د غونډۍ په سر راښکته شوې، غونډۍ به وریځو وپوښله او داسې به ښکاریده چې ماڼۍ د غونډۍ په سر نه بلکې د وریځو په منځ او د اسمان په څنډه کې جوړه شوې. د شپې له خوا به د ماڼۍ څراغونو دا منظره نوره هم زړه راښکونکې کړه او لیدونکو به ګمان کاوه چې د غونډۍ پر سر د آسمان ستوري راښکته شوي دي.
د کیسې په پیل کې مو واوریدل چې پاچا له لښکر سره راستون شو او خلکو یې تود هرکلی وکړ.

زړه ور چې اوس یو ځوان پاچا و، ډېرکوښښ یې کاوه چې رعیت یې خوشحاله وي او ټول خلک د هغه له پاچاهۍ خوښ واوسي. د خلکو په څیر د ساده جامو اغوستل او د خلکو سره ساده ژوند د پاچا زړور له عادتونو څخه وو.

هغه به چې کله واوریدل، کوم څوک غواړي د ده هیواد یا خلکو ته ستونزې جوړې کړي یا هم داسې کار وکړي، چې د خلکو خوښ نه وي، نو سمدلاسه به له خپل لښکر سره هغې سیمې ته ورغی، ستونزه به یې معلومه کړه او که به ستونزې جګړې ته اړتیا درلوده نو زړه ور به له شر جوړونکو سره جګړه وکړه او هغوی به یې پر خپلو کړو پښیمانه کړل. زړه ور په خپلو متو ډېر باور درلود او ګمان یې کاوه، چې تر څو هغه غشي او تورې کارولی شي، نو هیڅ یوه ستونزه یې مخه نشي نیولای او تل به بریالی وي.

په دې توګه هغه نن هم له یوې سختې جګړې راستون شوی و، ځکه خو داسې ستړی او ستومانه ښکاریده.

د خلکو خوشالیو له زړه ورنه ستړیا لرې ا و دمه یې ورته جوړه کړه ، هغه په خوښۍ شاوخوا ته کتل او خلکو ته یې لاسونه خوځول، لا یې خوله له خوشحالیو نه وه راټوله کړې چې د ښار د هسکو برجونو پر سر ټومبلو ساعتونو ته یې پام شو. یو ساعت هم په وخت برابر نه و، او یو یې هم وخت سم نه ښوده. پاچا څلورواړو ساعتونو ته په ځیر ځیر کتل. د

ساعتونو تر مخ الوتونکو مرغانو یې کله کله د ساعت ستنې له سترګو پناه کولې، او زړور یې بیا د لیدو کوښښ کاوه. په خپلو سترګو یې باور نشو کولای. دا په وروستۍ پیړۍ کې لومړی ځل وو، چې د عدالت څلور واړو ساعتونو سم وخت نه ښوده.

## ۲

د ماڼۍ مخې ته  له نورو خلکو او نوکرانو سره، بوډۍ او استازی هم د پاچا او لښکر هرکلي ته ولاړ وو.

پاچا له ټولو سره روغبړ او ستړي مه شي وکړه، د بوډۍ لاسونه یې ښکل کړل او د استازي په لیدو، چې وروسته له ډیرې مودې یې  لیدلی و ډیر خوشحاله شو، څو شیبې یې هغه په غیږ کې نیولی و او بیا دواړه لاس په لاس ماڼۍ ته ننوتل.

استازی هم اوس اوس د ټول هیواد له اوږده سفره راستون شوی و. هغه سفر چې زړه ور پاچا یې سپارښتنه کړې وه، تر څو د هیواد بیلابیلې سیمې وګوري او معلومه کړي، چې خلک څه کوي؟ ژوند یې څنګه دی؟ او آیا هغوی د زړور پاچا له دې څو میاشتینۍ پاچاهۍ څخه خوښ دي اوکه نه؟

پاچا ډاډه و چې استازی به ښه خبرونه راوړي او دی به له دې وروسته

خپله پاچاهي په ښه زړه او پرته له کومې ستونزې پر مخ وړي.
خو خبره داسې نه وه.
استازي او پاچا د ډوډۍ خوړلو پر وخت یو بل ته د خپلو سفرونه په اړه کیسې وکړې.
لومړی پاچا کیسه پیل کړه چې څنګه یې د غلو له یوه لښکر سره کوم چې تل به یې د لرې سیمو د خلکو شته او مالونه د شپو په تیارو کې د هغوی له کورونو غلا کول او خلکو ته به یې په لارو کې ستونزې جوړولې، یوه اوږده جګړه وکړه. بیا یې دا کیسه وکړه چې څنګه یې هغوی ټول ونیول او په بندیخانه کې یې واچول، تر څو بل څوک داسې کار ونه کړي او دوی هم له خپلو کړو پښیمانه شي.
له هغې وروسته یې کیسه وکړه چې څنګه یې د یوه بل هیواد له لښکر سره جګړه وکړه او پرې یې نه ښودل چې د دوی هیواد ته رادننه شي او د دوی د هیواد یوه برخه نارامه کړي، څو پاچا د پاچاهۍ له تخت څخه راکوز او په هیواد کې ګډوډي جوړه کړي.
استازي د پاچا خبرو ته غوږ نیولی و او کله چې د هغه خبرې خلاصې شوې نو نوبت یې وغوښت او د خپل عادت له مخې یې په ټوکو وویل:
زه هم بد خبرونه لرم او هم ښه!
بد خبر دا، چې خلک ستا له پاچاهۍ او حکومت څخه ناراضه دي او ښه خبر دا چې ته لا تر اوسه پاچا یې.

پاچا د استازي خبرې ته وخندل، وروسته استازي چې د څوکۍ بازو ته يې تکيه کړې وه ځان راسم کړ او په کراره يې وويل:
زما گرانه ملگريه! پوهېږم چې ته تل د خلکو د خوښيو لپاره ډېره هڅه کوې، خو کوم خبرونه، چې ما راوړي هغه دومره ښه خبرونه نه دي او ښايي چې تاسو ته په زړه پورې نه وي.
پاچا زړه ور په بېړه وپوښتل: وايه! وايه! غواړم ژر پوه شم چې څه دې ليدلي او اوريدلي؟ هسې زه د ساعتونو له ناسموالي وختي پوهيدلی وم، چې يو څه سم نه دي.
استازي زړه نازړه او شميرلي شميرلي وويل: گرانه ملگريه! ما چې د هيواد څلورو خواوو ته سفر وکړ، ومې ليدل چې خلک له پاچاهۍ او پاچا ناراضه دي. ټول وايي چې پاچا زړه ور د دوی په اړه فکر نه کوي. د دوی په کورونو او کليو کې سوله نه شته او دوی په ستونزو کې ژوند کوي، خو پاچا يې خبر نه اخلي او په خپل ژوند او د پاچاهۍ په خوندونو کې بوخت دی.
پاچا د استازي د خبرو له اوريدو وروسته ډېر خپه، په انديښنوکې ډوب او غلی شو. په همدې وخت کې هوښياره بوډۍ د ډوډۍ خوړلو خونې ته راننوته. پاچا او زړه ور د هغې په احترام له خپلو څوکيو راپاڅيدل او هغې ته يې د پاچا تر څنگ پر چوکۍ د کښيناستو بلنه ورکړه. بوډۍ کښيناسته او يو ځل بيا يې دوی دواړو ته ستړي مه شي ورکړه. بيا يې پاچا

ته وکتل، چې خپه او په چورتونو کې ډوب ناست دی. په مهربانه لهجه یې ورڅخه وپوښتل:

زما زړه ور بچی ولې داسې خواشینی او پریښانه ښکاري؟

پاچا په خواشینۍ ځواب ورکړ:

ګرانې ترورې! ته خو وینې، چې زه څومره د خپلو خلکو او هیواد د سوکالۍ لپاره هلې ځلې کوم.

-هو بچیه په دې کې خو هیڅوک شک نه لري، چې ته د خلکو په فکر کې یې او دا ستا او د دې هیواد د هر وګړي دنده ده، چې د خپل هیواد او هیوادوالو لپاره فکر او کار وکړي.

- خو ولې خلک زما له کار څخه ناراضه دي او زما خدمتونه هیڅ ګڼي؟

آن دا، چې دوی پر ما دا تور هم لګوي، چې زه ګواکې د دوی په اړه هیڅ فکر نه کوم او دوی ته مې هیڅ هم نه دي کړي.

څو شیبې ټول غلي وو، زړور پاچا یو ځل پر خپل ځای ناست او د ځمکې خواته ټیټ شو، د خپل لاس دوې ګوتې یې سره ټینګې ونیوې او بیا یې په داسې غږ چې له قهره ریږدیده وویل: زه له یوې جګړې تر بلې جګړې او له یوې لانجې تر بلې لانجې دمه نشم کولی، خو دوی وایي چې ما ورته هیڅ هم نه دي کړي او شکایتونه کوي. بیرته یې شاته تکیه وکړه او پورته یې چت ته وکتل:

اف، اف دا څه حال دی؟ دا د زغملو وړ نه ده!

هوښیارې بوډۍ له استازي څخه د سر په اشاره پوښتنه وکړه چې څه خبره ده؟ خو هغه له خپګانه خپل سر وخوځاوه او پورته یې اسمان ته داسې وکتل لکه کومه لویه ستونزه چې ولري.

بوډۍ چې د زړه ور او استازي دا خواشینۍ ولیده، سمدلاسه یې د پاچا زړه ور پر اوږه خپل مهربانه لاس کیښود او ورته یې وویل: زما زړه ور پاچا دومره کمزوری نه دی چې د ستونزو په وړاندې دومره ژر خپل ځان وبایلي او ناهیلی شي.

بیا یې استازي ته مخ ورواړاوه او زیاته یې کړه: خدای(ج) چې د انسان مخې ته ستونزې راولي، نو د ستونزو د حل وړتیا په هغه کس کېویني. زه په تاسو دواړو باور لرم، چې تاسو به دا ستونزې حل کړئ.

پاچا زړه ور په ناهیلۍ وویل: خو زه نور له جګړو، تورو، غشو او لیندو ستړی شوی یم، نور جګړه نه شم کولی. اخر تر کله به جنګیږم؟

بوډۍ یې خبره پرې کړه: بچیه! چا ویلي چې ستونزې یوازې په جګړو حل کیږي؟

ځینې داسې خبرې دي چې باید په اړه یې فکر وکړو، له خلکو وپوښتو، د ستونزو ریښې او اصلي لامل معلوم کړو او بیا هغه وخت کولی شو، چې ستونزه حل کړو یا هم ښایي ستونزه دومره لویه نه وي څومره یې چې مونږ ګڼو.

استازي وپوښتل: ښه نو تاسو ووایئ چې مونږ څه وکړو؟

- تاسو دواړه ولاړ شئ د خلکو په منځ کې وګرځئ، له هغوی وپوښتئ، د خلکو ستونزې معلومې کړئ او بيا يې د حل د لارو په اړه فکر وکړئ. چيرته چې ستونزه وي هلته يې د حل لاره هم شته.
پاچا له خپله ځايه پاڅيد، د لويې کړکۍ په لور وخوځيد، په خپل سر يې لاس تير کړ او بيا يې ورمېږ ته يووړ او ويې ويل: زه نور صبر نه شم کولی سبا سهار روانيږم. بوډۍ يې پر شا لاس تير کړ او ځواب يې ورکړ: هو، بچيه! زه هم همدا وايم وخت له لاسه مه ورکوه. د دولت چارې دې خپلو سلاکارانو ته وسپاره، زه يې وينم، چې ستا په نه شتون کې هغوی هرڅه سم پر مخ وړي.
زه به خدمتګارانو ته دنده وسپارم، چې د سبا ورځې د سفر لپاره هر څه تيار کړي.
استازي وويل: دا به ښه وي چې څوک په دې اړه خبر نه شي، چې د لرې پرتو سيمو خلک له پاچاهۍ څخه ناراضه دي، هسې نه دلته څه ګډوډې جوړه شي.
زړور پاچا هم سر وخوځاوه او د استازي خبره يې سمه وبلله.
هغه شپه په زړه ور پاچا ډيره اوږده تيره شوه، تر نيمې شپې هيڅ خوب نه ورته او لټ په لټ اووښت، ځان يې د خلکو په وړاندې ډير ملامت احساساوه. سپيره داغ يې سترګې پټې شوې او يوعجيب خوب يې وليد. هغه په خوب کې د هوښيارې بوډۍ لمسۍ (سوله) وليده چې لاسونه او


پښې يې په وسپنيزو ځنځيرونو تړلي وو، په غاړه کې يې هم يو دروند ځنځير پروت و، هره خوا سپيرې خاورې او دوړې وې. سولې په ستړي غږ په زړه ور پسې نارې وهلې او ويل يې:

زړه وره! ما وژغوره! زړه وره هيله کوم ما وژغوره! هله ما له دې ځايه خلاصه کړه! ته له ماسره مرسته وکړه، زه به ستا ستونزې حل کړم، هيله کوم ما وژغوره!

کله چې راويښ شو، ستونی يې له ويرې وچ او په خولو کې لوند خيشت و، ژر يې د خپل تخت تر څنګ ميز ته لاس کړ او يو ګيلاس اوبه يې په بيړه بيړه وڅښلې، بيا يې خپلې پښې په پښو کړې او د هوښيارې بوډۍ د خونې په لور ورغی.

هلته يې د دروازې تر شا په هوښيارې بوډۍ پسې ډيرې نارې وکړې، خو هيڅ غږ يې وانه وريد. اخر يې دروازه ورو خلاصه کړه ويې ليدل چې ډيوه بله ده خو بوډۍ بهر په بالکن کې ولاړه ده او د اسمان په لوري ګوري. پاچا زړه ور ورغی او د هغې پر اوږه يې لاس کيښود. بوډۍ د هغه لاس په خپل لاس کې ونيو او پرته له دې چې سترګې له اسمان څخه بل لوري واړوي په کراره يې وويل: همدا اوس مې سوله په خوب کې وليده، داسې ښکاري چې هغه په کومه ستونزه کې راګير ده.

د پاچا زړه ور سترګې له ډيرې حيرانتيا څخه رډې راووتې او وې ويل: دا څه وايې! همدا اوس ما هم کوچنۍ سوله په خوب کې وليده چې په



ستونزه کې ده، هغې ماته ناري وهلې او مرسته یې رانه غوښته.

هوښیارې بوډۍ د زړه ور پاچا په لوري مخ ورواړوه او ورته وېې ویل: ته رښتیا وایې؟ اوه زما خدایه! زما نازولې لمسۍ په ستونزه کې ده او زه یې هیڅ مرسته نه شم کولی.

بیا یې پاچا ته په ډېره عاجزۍ وویل: زړه وره زویه! ما تر اوسه له تا څخه هیڅ هم نه دي غوښتي، خو نن درنه یو څه غواړم، لومړۍ ته ژمنه وکړه، چې زما غوښتنه به پوره کوې.

پاچا زړه ور بې له ځنډه وویل: ووایه تروري هر څه چې وایې، زه ژمنه کوم چې خبره دې پر ځمکه نه غورځوم.

بوډۍ وویل: زویه ماته هم اجازه راکړه چې سبا له تاسو سره په دې سفر کې ملګرې شم، هلته به مې خپله لمسۍ ولټوم، کیدای شي پیدا یې کړم

او له ستونزو يې راخلاصه کړم.
پاچا چې لومړی يې له بوډۍ سره ژمنه کړې وه، نور يې هيڅ و نه ويل.

### ۳

سهار وختي زړه ور پاچا، استازی او بوډۍ د ښار له دروازې بهر ووتل. بوډۍ دوی ته سپارښتنه وکړه چې په سفر کې به هيچاته نه وايي چې دوی له شاهي ماڼۍ څخه راغلي او پاچا زړه ور دی، بلکې د عامو خلکو په دود به له کليو او بانډو څخه تيريږي.
پاچا پاخه کريمي رنګه کالي او سور رنګی برګ واسکټ اغوستی او په خپل سور بخون آس سپور و، پاپي يې تر شا روان و او لکۍ يې خوځوله. استازی هم فولادي کالي او تور واسکټ اغوستي وو او بوډۍ له ليکې ليکې تور، سور او ژېړ پاخه رنګه اوږد کميس او تور ټيکری سره په دوو غښتلو آسونو سپاره د پاچا يوې او بلې خواته مخ په لمر خواته روان شول او د لمر په طلايي شغلو کې داسې پټ شول چې ليدونکي ته داسې بريښېده لکه د لمر شغلې، چې د دوی له وجوده راوځي او ښار روښانه کوي.
دوی دری واړه په اسونو سپاره روان شول، پاپي به دوه درې ګامه د دوی تر مخ ولاړ، کله به يې وليدل، چې دوی ترې وروسته پاتې دي بيرته به

يې د دوی په لور منډه ورواخيسته. د پاپې د غاړې د ګړونګې شرنګا، دآسونو د پښو اواز او د دوی خبرو په لاره زوږ جوړ کړی و. داسې بريښيده لکه يو لوی کاروان چې روان وي. دوی تلل تر څو، چې يوې استوګنې سيمې ته وررورسيدل.

سر به مو څه درګرځوم، دوی ټوله ورځ سفر وکړ او کله چې ماښام نږدې شو نو بوډۍ، استازي او زړور ته مخ ورواړوه او ويې ويل:

زامنو! هوا تياره کيږي او موږ ډير ستړي شوي هم يو، زه خو وايم چې همدلته به يو سم ځای د خيمې وهلو لپاره پيدا کړو او شپه به تيره کړو.

استازي چې ټوله لار يې د دمې جوړولو لپاره ويلي وو، خو چا يې خبره هم نه وه اوريدلې، يوه ژوره ساه واخيسته او په بيړه له اس څخه راښکته شو او د ځای په پيدا کولو او د خيمې په وهلو بوخت شو. نيم ساعت وروسته هر څه تيار شول.

دوی د سيند غاړې ته نږدې خپله خيمه ودروله، په خورجينو کې ورسره راوړې خواړه يې د يوه کوچني دسترخوان په سر کيښودل، ورسره کوچنی څراغ يې بل کړ، د سيند له څنډې څخه له يوې نږدې چينې يې په ورسره خاورينه کوزه کې اوبه راوړې او درې واړه په ډوډۍ خوړولو بوخت شول، استازي چې په بيړه بيړه يې ډوډۍ خوړه د خوړلو پر وخت يې بوډۍ ته وويل: ترورې! څومره ښه ده چې په دې اړه سبا له خلکو څخه د هغوی د ستونزوپه هکله پوښتنه وکړواويوه لاره چاره وسنجوو.

له دې سره يې ګوله په ستوني کې ونښته، په ټوخي يې پيل وکړ، زړه ور د اوبو ډک ګيلاس ورته ونيو، بيايې له ځان سره ورو وويل: څوک يې ترې تښتوي، چې داسې يې په بيړه بيړه خوري؟

بوډۍ په ډوډۍ پسې د اوبو غړپ وکړ، خوله يې په دسمال پاکه کړه، سترګې يې د چراغ رڼا وبريښولې، لاس يې سترګو ته ونيو، چې رڼا يې له سترګو چپه شي او په کرارۍ يې ځواب ورکړ:

هو بچيه! په هر څه کې فکر کول او په کراره او ډاډه زړه مخ ته تلل ښه دي، ستونزې او ضرر راکموي.

پاچا زړه ور په ټوکه وويل: هو ان د ډوډۍ خوړلو پر وخت احتياط هم د مړۍ د بنديدو خطر را کموي.

استازي چې يوه لويه ګوله يې په ښۍ ژامه کې نيولې وه، شخوند وهل يې پريښودل او د څو شيبو لپاره يې زړه ور ته بد بد وکتل، بيا يې بيرته خپل شخوند له سره پيل کړ. لومړی زړه ور وروسته بيا درې واړو په يوه غږ د استازي دې ډول غوسې ته وخندل.

دوی چې ټوله ورځ مزل کړی و ډير ژر ويده شول.

سبا سهار درې واړه راويښ شول، خو ويې ليدل چې هلته هر څه يو ډول عجيبه ښکاري. په هغه  سيمه کې هر څه خړ پړ و، داسې خړ پړ لکه خاورې.

خړ کورونه، خړ پړ غرونه او دښتې، په سپيرو ونو کې راځړيدلې ميوې

داسې بریښیدې لکه د ختو سیلاب چې پرې راتیر شوی وي. دا لا څه چې د دې سیمې د ژوو رنګونه هم خړ پړ وو. پاچا زړه ور په داسې حال کې چې هرې خوا ته یې په حیرانی کتل، پر یوه خړ کمره کښیناست، خو ناڅاپه کمر په خوځیدو شو او پاچا یې له ځان سره اوچت کړ. پاچا لومړی ګمان وکړ چې زلزله ده خو کله چې له روان کمره څخه یې راټوپ کړل، ویې لیدل چې هغه خړ کمر نه بلکې یو خړ غوایی و، چې لمر ته یې ډډه اچولې وه. پاچا د غوایي په لیدو ډیر وارخطا شو، په داسې حال کې ، چې لاسونه یې سره مږل ویې ویل: اوه خدایه! په رښتیا ډیره عجیبه او حیرانونکې ده! ما هیڅکله د غوایي سورلی نه وکړی! استازي په کړس کړس وخندل او ویې ویل: هو هغه هم د خړ غوایي!

دوی دری واړه د دې په لټه کې شول، چې د دې حالت په اړه له چا څخه پوښتنه وکړي او خبره معلومه کړي.

له څه ځنډ وروسته یې یو سپین ږیری ولید، چې د توت ونې ته یې تکیه کړې او ناست دی . زړه ور پاچا له نورو ورمخته شو او تر څو چې استازی او بوډۍ وررسیدل له هغه یې وپوښتل:

بابا جانه! په دې سیمه باندې څه شوي؟ ولې هر څه داسې خړ پړ او سپیره دي؟

بوډا سر پورته کړ، د زړه ور او ملګرو په لور یې وروکتل، بیرته یې توت ونې ته تکیه وکړه او ویې ویل: هی هی بچیه! موږ هم نه پوهیږو، چې

زموږ په سیمه څه شوي او ولې دا هر څه راپيښ شوي، خو دومره پوهيږو چې دا سیمه له مودو راهیسې هیڅ رنګ نه لري او نه پوهيږو، چې له دې وروسته به هم زموږ راتلونکي ماشومان رنګونه ولري اویا به یې وپيژني که نه؟

بوډۍ وویل: زه خو وایم، چې هر څه یو علت لري، تاسو کله په دې اړه پلټنه نه ده کړې چې د دې خرپړتیا علت څه دی او څنګه دا هر څه بیرته سمیدای شي؟

بوډا راسم شو د بوډۍ په لور یې په احترام وکتل بیا یې وویل: انۍ دا هر څه زموږ د فکر او وس څخه وتلي، دومره عمر مې تیر شوی تر اوسه مې داسې څه نه وو لیدلي او نه مې هم له خپلو پلرونو او نیکونو اوریدلي وو، چې داسې څه دې پیښ شوي وي.

استازي شاوخوا وکتل هر څه ورته زړه تنګونکي ښکاره شول، یو لاس یې تر تخرګ لاندې نیولی وو او بل یې پر مخ تیر کړ، خپله زنه یې په موټي کې ونیوله، سترګې یې ټیټې کړې، ځمکې ته ځیر شو او بیا یې له ځانه سره وویل: دا نو څنګه کیدای شي چې یوه سیمه دې هیڅ رنګ ونه لري او هیڅوک دې په دې اړه فکر ونه کړي؟


بودا لکه چې همدې خبرې ته په تمه و، له خپل ځایه راپورته شو او په قهر یې وویل: څوک یې په اړه فکر وکړي هه؟

موږ خو زړه ښه کړی وو، چې پاچا لرو خو هغه څه وکړل؟ هیڅ!

پاچا چې زموږ غم نه خوري نو موږ به څه وکړو؟ یوازې د تاج په سرولو خو څوک نه پاچا کیږي!

بوډۍ د سترګو په اشاره استازی پوه کړ، چې نور څه ونه وایي او بوډا ته یې د هو په دود سر وښوراوه.

سپین ږیري په قهر مخ واړوه، له ځایه پاڅید، خپل سپیره څادر یې وڅنډه او روان شو.



پاچا زړه ور له ډېره قهره نه پوهیده چې څه وکړي، همدا چې بوډا له هغه ځایه لرې شو نو بوډۍ ته یې مخ ورواړوه او ویې ویل:

تروري ته یې ګورې خلک څنګه زما په اړه بد فکر کوي؟ هغوی ملامت نه دي، ما د هغوی لپاره هیڅ هم نه دي کړي او ستونزې یې دې حد ته

رسيدلي،خو زه يې په اړه خبر هم نه يم.

بوډۍ په سړه سينه ځواب ورکړ: زويه منم چې دا ستونزه ډيره عجيبه ده او د حل لاره يې هم له موږ سره نشته، خو موږ ته په کار ده، چې ډير پام وکړو او دې ستونزو ته د حل لاره پيدا کړو.

استازي وويل: هو ترور رښتيا وايې، زموږ ځيرتيا د ستونزې په حل کې له مونږ سره مرسته کولای شي.

بوډۍ په بيړه وويل: هو يوه بله خبره! هغه دا چې ستونزه به يوازې دلته پای ته نه رسيږي موږ به گورو چې وړاندې څه ستونزې شته او کيدای شي، چې ستونزې يو له بل سره تړلې واوسي.

زړه ور وويل: نو موږ د ستونزو په اړه هيڅ نه شو کولی؟

بوډۍ په ورسره لرگي تکيه وکړه او له خپله ځايه پاڅيده، که څه هم هغه د تگ پر وخت لکړې ته اړتيا نه درلوده، خو تل به يې يو اوږد لرگی په لاس کې وو او د ولاړيدو پر وخت به يې پرې تکيه کوله. کړوپه ملا يې سمه کړه او ويې ويل: د ستونزې معلومول په خپله لوی کار دی په دې شرط، چې د حل لارې د لټولو لپاره کوښښ وشي.

پکار ده چې شاوخوا نښې نښانې وڅارو تر څو يوه لاره چاره ورته پيدا کړو، موږ به مخته ولاړ شو او وبه گورو، چې د نورو سيمو ستونزې څومره سره ورته دي.

په دې توگه دوی خپل سفر ته دوام ورکړ، په لاره کې استازي له هوښيارې

بوډۍ څخه وپوښتل:

تروري! خلک ولې په قهر کیږي؟

بوډۍ ځواب ورکړ: زویه قهر کیدل یو احساس دی چې مونږ یې په اړه پریکړه نه شو کولی، کله چې یو داسې څه پیښ شي چې موږ یې تمه نلرو یا یې هم نه غواړو، نو موږ په قهر کیږو.

زړه ور پاچا وپوښتل: ښه نو موږ حق لرو چې په قهر شو.

بوډۍ وویل: دا چې یو څه زموږ په واک کې نه وي، نو مونږ یې د سرته رسولو او نه کولو په اړه هم پریکړه نه شو کولای، خو د خپل غبرگون په اړه واک لرو چې څه ډول غبرگون وښییو.

استازي وویل: نو موږ پرته له خپل واکه په قهر کیږو او بیا مو په خپل واک کې ده چې څنگه خپل قهر وښییو؟ مونږ کله چیغې وهو، ځان او نورو ته زیان رسوو یا هم نورې نامناسبې کړنې تر سره کوو.

بوډۍ ځواب ورکړ: هو مونږ په قهر کیږو او دا زموږ په واک کې نه ده، خو دا مو په واک کې ده، چې کله په قهر شو چیغې ونه وهو، ځان او نورو ته زیان ونه رسوو او بې ځایه کړنه ترسره نه کړو.

دوی دریو خپل سفر ته دوام ورکړ، زړه ور پاچا پر خپل سور بخون اس بخمل سپور و او پاپې یې تر شا لکۍ خوځوله، استازی او هوښیاره بوډۍ یې دوو خواووته پر آسونو سپاره روان وو.

دوی ښه ډیر مزل وکړ، له خړې سیمې ښه ډیر لرې شول، طبیعت بیرته

خپل طبيعي حالت ته راوګرځېد. دوی څو ځايه دمه وکړه او د سيمو له ښکلا او طبيعت څخه يې خوند واخيست، تر څو چې يوې بلې د استوګنې سيمې ته ورسيدل. هلته په لومړي سر کې هر څه سم وو، د پسرلي خوندوره هوا چليده، ګلان او بوټي غوړيدلي او تازه ښکاريدل، ونې شنې او څانګې يې تازه وې. رنګ په رنګ پتنګان د ونو پر ښاخونو او ګلانو الوتل را الوتل. په سيمه کې بهيدونکی سيند په شور او زوږ له شنو باغونو او ونو څخه تيريده، خو خلک په ډيره بيړه په کارونو بوخت وو، لکه کوم څه ته چې بيړه لري. پاچا او ملګرو يې هم ونه غوښتل، چې د خلکو په کارونو کې خنډ راشي، د غره په لمن کې يې د يوې ونې لاندې ځانته څادر خور کړ او کښيناستل چې هم دمه وکړي اوهم د دې ښکلي طبيعت ننداره وکړي. دوی چې له خړې سيمې نوي راستانه شوي وو، د طبيعت له ښکلا او رنګونو يې داسې خوند اخيسته لکه يو ړوند کس چې نوی د سترګو رڼا ومومي او په لومړي ځل د طبيعت ښکلا او رنګونه ويني.

د دوی دمه لا جوړه نه وه چې د لمر تودوخې ورخطا کړل، د لمر تودوخه دومره تيزه او سوزونکې شوه، چې دوی ګمان نه کاوه دا دې د څو شيبو مخکې پسرلنۍ سيمه او هوا وي. بوډۍ په جام کې لږ اوبه له سيند څخه راوړې، پر خپل ټيکري يې واچولې، خپل لوند ټيکري يې پر سر کړ، تر څو د ګرمۍ مخه پرې ونيسي. زړه ور پاچا او استازی هم د سيند په لوري

وخوځېدل او ځانونه يې له جامو سره سیند ته وغورځول، له ښو ډېرو شیبو لامبو وروسته بیرته له سیند څخه راووتل او  بیرته د ونې پر لوري ورغلل. دوی د گرمۍ د ډېر والي له امله تر ونې لاندې خوب یوړل.
لا يې يوه سترگه خوب نه و کړی، چې د هوا له یوې سرې څپې سره له خوبه راپاڅېدل او په حیرانۍ يې ولید، چې څو شیبې مخکې سوزونکې توده هوا ورو ورو سړېږي او د غره له لورې يو سوړ باد لگېږي. باد او سیلۍ ورو ورو ډېریدله او داسې ښکاریده لکه چې د مني سړه سیلۍ لگېږي. تازه او شنې پاڼې له ونو را تویدې او خلکو په خپلو څادرونو او ټیکریو کې ځانونه تاوول. تر څو چې د مازدیگر لمر لویده هوا نوره هم یخه شوه او ورسره د واورې وړې وړې سپرغۍ هم له اسمانه راپوښیدې، دوی ته داسې وبریښیدل لکه د ژمي لومړنۍ واوره. زړه ور، بوډۍ او استازي دې هر څه ته په حیرانتیا کتل.
استازي لاسونه له اسمانه پوښیدونکې واورې ته ونیول او ویې ویل: گمان کوم دلته هم کومه ستونزه شته.
بوډۍ د خپل گڼ کمیس برگه لمن تر خپلو پښو راتاو کړه او ویې ویل: زه چې گورم دا سیمه یوثابت موسم نه لري او په یوه ورځ کې څلور واړه موسمونه تجربه کوي، خو زه چې تر کومه ځایه خبره یم زموږ هیواد داسې سیمه نه لري، چې هغه دې ثابت موسم ونه لري.
پاچا او استازي بوډۍ ته وویل: تروري ته دا گرمه شړۍ له ځانه راتاوکړه،

مونږ ځو چې له خلکو وپوښتو.
پاچا زړه ور او استازی پاڅېدل، هر يوه خپل ګرم پټو تر ځانه راتاوو کړ او د هغو خلکو په لوري ورغلل چې په پټيو کې په ډېره بيړه د يخ وهلو سابو او ميوو په راټولو بوخت و.
پاچا له لرې غږ وکړ: هی! ستړي مه شئ! خو د خلکو له خوا يې کوم ځواب وانه ورېد. پاچا هم تمه نه درلوده، چې ځواب يې واوري ځکه پوهيده، چې اوس هغوی ته خپل کار تر خبرو ډېر اړين دی. نږدې ورغی، يوې ميرمنې په بيړه بيړه له پټي څخه شنه او نيم خام خټکي راټولول.
دوه کوچني هلکان هم ورسره لګيا وو. د يوه پوزه رابهيدلې وه او د دوهم هلک لاسونه يخ تک سره کړي و.
پاچا وپوښتل: ترورې دا څه خبره ده؟ څو شيبې مخکې دلته پسرلی و، بيا ګرمی داسې زور واخيست چې تندي يې خولې کول، لږ ځنډ نه و تير چې بيرته سړه هوا په چليدو شوه او اوس دا دی د ځلې په شان يخني ده. ښځې هيڅ ځواب ورنکړ او په بيړه يې خپل کار کاوه.
استازي تر ژبې لاندې وويل: مونږ ويل ستاسو سيمه تل همداسې هوا لري؟ کښتونه مو څنګه تر ثمره رسوئ؟
ښځې پرته له دې چې د هغوی په لوري وروګوري سوړ اسويلی وايست او ځواب يې ورکړ: ويش زويه څه يې کوې، دا ټول زموږ له بده بخته

راپیښ دي. موږ هم د نورو خلکو په څیر په کرارۍ او سوله کې ژوند کاوه، خو د دې پاچا په راتګ سره مو هر څه له لاسه ورکړل. شنه کښتونه مو په پټیو کې یخ وهي او خوندورې میوې مو د خوړلو نه دي.
پاچا زړه ور د دې ځواب په اوریدو له یوه عجیب حالت سره مخ شو لکه چا چې کوم لوی تور پرې لګولی وي. لاړې یې په ستونې کې ونښتې، په سختۍ یې تیرې کړې او ویې ویل: پاچا؟ پاچا مو څه کړي چې داسې مو ورځ بده ده؟
ستاسو د پاچا په وس کې دا شته چې ساړه یا ګرمي راولي؟
ښځې یې په بې حوصله ګۍ خبره ور پرې کړه: موږ هم وایو چې دا کار د پاچا له وسه نه دی پوره، چې ساړه او ګرمي دې کابو کړي، خو پاچا دې دا هم نه وایي چې زما په هیواد کې سوله شته.
سوله خو د پاچا په لاس کې ده، سوله دې راولي، چې هر څه ورسره سم شي.
استازی ورمخته شو او ویې پوښتل: تاسو ګمان کوی چې دا هر څه په سولې پورې اړه لري؟
ښځې ځواب ورکړل: هو خود، دا هر څه د سولې د نه شتون له امله رامنځته شوي، که دلته سوله وای نو داسې به هیڅکله نه کیدل، دا زه نه وایم دا ټول خلک وایي چې پاچا له خلکو بې خبره دی او دا ټوله بدمرغي د هغه له لاسه پر موښږ راغلې.

استازي ته د بوډۍ خبره ورپه زړه شوه چې ویل یې: (سوله یوازې د جنګ درېدل نه دي،سوله د انسان نیکمرغي ده، چې په خپل ژوند کې یې ولري. که د کوم هیواد خلک نیکمرغي ونه لري، په ژوند کې یې ستونزې وي او په ښه زړه ژوند ونه شي کولای نو هلته سوله نشته.) بیا یې سر ښکته واچاوه او نور یې هیڅ هم ونه ویل.

ښځه په داسې حال کې چې ستمیده یو خټکی یې راپورته کړ، ویې لیدل چې یوه خوا یې خوسا ده، د پټي کنج ته یې وروغورځاوه او زوی ته یې وویل: زویه! هغه د پټي د کنج خوسا خټکي درسره ټول کړه چې بیا یې سبا په ګرمه هوا کې چیرته ښخ کړو کنه نو مچان به ټول ځایونه په سر واخلي. زړه ور او استازی همداسې حیران ولاړ وو او د ښځې او زامنو کار ته یې کتل، چې څنګه له یخنۍ ریږدي او په بیړه بیړه کار کوي.

زړه‌ورځان ملامت ګاڼه، که څه هم نه پوهیده چې ولې ملامت دی، خو دا چې هغې ښځې او خلکو دی ملامت ګاڼه، نو ده ته هم ځان ملامت ښکاریده. ښځې چې ولیدل دوی دواړه لا هم ولاړ دي او د دوی سیل کوي نو یې په قهرجنه لهجه وویل: تاسو مو حال وینئ، بیا وایې چې پاچا ملامت نه دی، ډیر لرې نه همدا څو موده د مخه چې د هغه پلار مشر پاچا ژوندی و، نو مونږ هم کرار ژوند درلود او هر څه مو سم پر مخ تلل. اوس چې سوله نه لرو نو هیڅ هم نه لرو. دا وطن او خلک سوله غواړي. په داسې حال کې چې له قهره یې شونډې رپیدې زیاته یې کړه: مونږ دا

خبره له پلرونو او نیکونو اوریدلې، چې یو وخت به مو په هیواد کې سوله ورکه شي او همداسې بده ورځ به په مونږ راشي، هغه وخت مو که یو عادل او خواخوږی پاچا درلود نو هغه به مو هیواد ته سوله راولي، که نه نو ټول به له ژوند څخه په تیښته شی او مېنې به مو درنه پاتې شي.
زړه ور غوښتل چې نورې پوښتنې هم وکړي، تر څو وکړای شي د ستونزې لپاره د حل کومه لاره پیدا کړي، خو ښځې خپلو زامنو ته وویل: هله بچیانو ژر کوئ! خر دیخوا راولئ، چې خورجین پرې بار کړو، معلومه نه ده کیدای شي واوره ډیره شي، بیا خر په ډیره واوره کې نه شي تللی.
هلکانو د ختڅکیو خورجین په خره بار کړ او ښځه چټکه پسې روانه شوه.



زړه ور په قهر د بوډۍ په لور ورروان شو او استازی هم ورپسې ورغی.
پاچا زړه ور بوډۍ ته ورنږدې شو، خو لکه له ځان سره چې غړېږي په ټيټ اواز يې وويل: سوله نشته، پاچا ملامت دی، نه پوهيږم څه ګډې وډې وايي، بيا خبرې ته غوږ هم نه نيسي او مخکې له دې چې په خبره ځان پوه کړي په خپله مخه ځي.
استازي هم سر خوځاوه او د زړه ور خبره يې سمه ګڼله.
بوډۍ لاهم کراره ناسته وه په لاس کې ورسره لرګی يې د ځمکې پر مخ راکش کړ او نا معلومې کرښې يې راويستې بيا يې د پټيو په لوري خلکو ته وکتل چې لا يې په بيړه بيړه له ځمکو نه خپل ريبلي فصلونه ټولول.
له څو شيبو وروسته يې په کراره وويل: که هغوی ټول په دې باور دي، چې دا هر څه د پاچا له لاسه ورپيښ دي، نو کوم دليل لري او دا دليل بايد معلوم شي.
پاچا په لوړ اواز وويل: څه دليل؟ څه دليل؟ دوی ان د دليل ويلو ته هم تيار نه دي، يو يې هم زما خبرې نه اوري او پوښتنې مې نه ځوابوي.
استازي ورو زړه ور تر لاس ونيو اوپه  دې ډول يې پوه کړ چې له بوډۍ سره په لوړ غږ  ونه غږيږي.
هوښيارې بوډۍ خپلې خبرې وغځولې: بچيه! خلک له ستونزو سره لاس او ګريوان دي او ته ورنه تمه لرې چې له تاسره دليلونه ووايي.
پاچا زړه ور خپل سر او غږ داسې راټيټ کړ لکه زاری چې کوي، د دواړو

لاسونو گوتې يې سره راټولې کړې لاسونه يې د سینې لور ته ورنیږدې کړل او ويې پوښتل: نو تاسو ماته ووایئ چې زه څه وکړم؟ څنګه د دوی ستونزې حل کړم؟
استازي هم ورزیاته کړه: که دوی ونه وایي چې ستونزه له کومه پیدا شوې نو مونږ به د حل لاره څنګه ورته پیدا کړو؟
بوډۍ وویل: که غواړئ چې خلک دربانديې باور وکړي لومړۍ باید ته ګام واخلې او د هغوی اعتماد تر لاسه کړې. د خلکو په منځ کې ورګډ شئ تر څو مو خلک خپل وګڼي. کله چې ستونزو ته له هغې زاویې وګورئ چې خلک ورته ګوري نو تاسو به هم هغه ستونزې ووینئ چې دوی يې ویني.
زړه ور پاچا پوه شو چې هوښیاره بوډۍ رښتیا وایي، د خپلې ټنډې ګونځې يې خلاصې کړې او ويې ویل: ګرانې ترورې، زه هم غواړم چې د هغوی ستونزې حل کړم او وینم چې د دې ناڅاپه بدلیدونکو موسمونو په وړاندې څومره ناتوانه دي، خو لومړۍ باید پوه شم چې دوی له ما څه غواړي.
استازی د زړه ور په خبره کې ورګډ شو او ويې ویل: دوی وایي چې سوله غواړو کوم چې پاچا يې باید موږ ته راولي.
پاچا وویل: ولې یوازې پاچا؟ ایا دوی کوم مسولیت نه لري؟ دوی د خپل ژوند په بدلولو کې تر هر چا ډیره مرسته کولی شي. له دې سره هوښیارې

بوډۍ خپله لکړه په زوره په ځمکه ووهله او په دې توګه یې دوی پوه کړل چې غواړي کوم څه ووايي، بیا یې په خبرو پیل وکړ:
هو خلک هم باید د خپل ژوند د بدلولو لپاره یو څه وکړي چې هغه دې کوي یې. دوی ټوله ورځ په دې بوخت دی چې ځانته یوه مړۍ ډوډۍ پیدا کړي، د موسم د ناڅاپه بدلیدو له امله یې کښتونه له خطر سره مخ کیږي او دوی د دې خطر په کمولو کې پوره پوره ونډه اخلي، تر اوسه یې شاهي خزانې ته د څه غوښتلو لاس نه دی اوږد کړی. خپل خواږه په همدې سختو شرایطو کې په خپله برابروي او د دې تر څنګ یې خپل ماشومان هم ډیر هوښیار روزلي، هغوی له خپلو کورنیو سره مرسته کوي څو ژوند یې ښه شي.
هغوی د نورو ماشومانو په څیر د لوبو لپاره وخت او کراره ژوند نه لري، د کار کولو پر وخت یې کله له یخنۍ لاسونه ریږدي او کله یې له ګرمۍ ګریوانونه په خولو لامده وي، خو تر اوسه یې له خپلو کورنیو سره مرسته کړې او ښه تکړه دي.
په دې خبرې سره پاچا زړه ور ته د هغه ماشوم بهیدلې پوزه او د هغه بل ماشوم د یخنۍ له امله سره اوښتي لاسونه ورپه زړه شول، ځان ورته ملامت ښکاره شو، په عاجزۍ او ملامته لهجه یې له بوډۍ وپوښتل: اوس د حل لاره څه ده؟ زه... ژر یې خپله خبره بدله کړه، موږ څه کولی شو؟
هوښیارې بوډۍ د لارې په لوري وکتل او ویې ویل: لومړۍ باید معلومه

کړو چې ستونزه چیرې ده او د دې لپاره باید خپل سفر بشپړکړو، ماته داسې ښکاري چې طبیعت مو په خپلو نښو نښانو پوهوي چې ستونزه شته، خو دا چې چیرته او څه ستونزه ده زه هم نه پوهیږم. لا نور ډیر څه شته چې باید پرې پوه شو تر څو د ستونزې جرړې راته معلومې شي.

دوی درې واړه په دې پوه شول چې نور دلته څه نه شي معلومولی او باید له دې ځایه ولاړ شي. اوس نو هوښیاره ترور او زړه ور ورو ورو پلي روان شول، استازی په اس سپور و او د دوه نورو د اسونو قبضې یې هم په لاس کې وې. پاچې یې تر مخ منډې وهلې خو لږ به چې مخته ولاړ بیا به بیرته راوګرځید او د زړه ور پاچا مخې ته به یې ترپکې پیل کړې او تر هغې به یې لکۍ خوځوله څو چې به دوی ترې تیر شول بیا به له دوی څخه مخته او په منډو شو.

په لاره کې زړه ور پاچا له هوښیارې بوډۍ وپوښتل:

خلک ولې داسې فکر کوي چې د دوی د ستونزو په اړه نور ملامت دي؟

بوډۍ پوه شوه، چې پاچا په دې خپه دی چې خلک دی ملامتوي نو یې په مهربانۍ ځواب ورکړ:

خلک یوازې غواړي په دې سره د وړپیښې ستونزې په اړه خپله ملامتیا کمه کړي، که نه نو دوی ښه پوهیږي، چې دوی تر بل هر چا ډیر د خپلې ستونزې په اړه ملامت دي.

دوی دریمې سیمې ته ورسیدل. دا سیمه یوې دښتې ته ورته سیمه وه،

آن له لرې واټن څخه هم کومه ونه او بوټی نه ښکاریدل. استازي وویل: اوف خدایه! دا څومره بې خونده سیمه ده، نه کومه ونه، نه کوم بوټی او نه کوم ګل! بیا یې وخندل، ګل لا څه چې اغزي هم نه شته.

زړه ور او بوډۍ پرته له دې چې له استازي سره خندا غبرګه کړي همداسې یې شاوخوا ته کتل.

استازي ژر له خولې خندا راټوله کړه او ویې ویل: داسې ښکاري چې دلته وچکالي ده.

ښه شیبه ټول پټه خوله روان و تر څو نیږدې کلي ته ورسیدل. په کلي کې کراره کراری وه، نه لویان ښکاریدل او نه د ماشومانو لوبې. دوی د دې لپاره چې معلومه کړي خبره څه ده، د کلي په منځ کې آ خوا دیخوا وګرځیدل. د کلي له یوې څنډې د لرګیود ماتولو اواز راته، دوی ورلنډه شول، یوه سړي د کور مخې ته لرګي ماتول او یوه ښځه هم له دریو وړو ماشومانو سره د کور په دروازه کې ناسته وه. د دوی په لیدو سړي او ښځې هغوی ته نابلده نابلده وکتل.

پاچا زړه ور ورمخته شو، سلام یې ورکړ او په بیړه یې وویل: مسافر یو، لاره رانه غلطه ده.

سړي د خپل تندي خولې په لستوڼي پاکې کړې وې ویل: ستړي مه شئ، راځئ لومړی مو تنده ماته کړئ، هوا ډیره ګرمه ده.

ښځه هم په بیړه کلا ته ننوته له یو منګي او جام سره راووته. جام یې له

يخو اوبو ډک کړ او لومړی يې بوډۍ ته ونيوه.

بوډۍ يخې اوبه وڅښلې او شکر يې وايست، له هغې وروسته زړه رو او استازي هم اوبه وڅښلې. بوډۍ ښځې ته مخ ورواړوه او ويې پوښتل: سيمه مو ډيره وچه ده، په څه گذاره کوئ؟

ښځې د خپل کوچني ماشوم پر سر لاس ورتير کړ او ويې ويل: هی موري! مرگ دې نه وي، دا نيستي به هم تيره شي.

سړي له هغې خوا غبرګ وکړ: ادې يوازې وچکالي نه ده، له هرې خوا مو ورڅه بده ده. مونږ په يوه لوی ناروين اخته يو، خاوره مو قوت نه لري، هرڅه چې پکې وکرو نو سم حاصل نه ورکوي، په ډيره خواری مو ورته کوهي وکيندله او کښتونه مو اوبه کړل، خو د کال په نيمايي کې مو ټول کښتونه وچ شول. ونو ميوه ونه نيوله، يا يې گل توی شو او يا يې هم خامې ميوې.

بوډۍ او ملگرو يې په انديښنې يو بل ته وکتل، استازي له سړي وپوښتل: ولې؟ اخر څه شوي چې ځمکه مو دومره کمزورې ده؟ لامل يې څه دی؟

سړي شاوخوا وکتل لکه څار چې کوي، بيا يې ورو وويل: څه ووايم! خبره دې زموږ تر منځ وي، زموږ پاچا ملامت دی.

موږ پر پاچا د هغه د پلار د ښو اخلاقو له وجې اعتماد وکړ، مگر هغه څه وکړل؟ هيڅ!

دا دي په سترگو يې وينئ، زمونږ ماشومان له لوږې مري، خو پاچا مو په کيسه کې هم نه دی. د هغه څه غم دی، دسترخوان يې له ډول ډول خوړو او ميوو ډک دی او په خپل وخت خوراک او خوب کوي، د خوارانو له زړه څه خبر دی.

له دې سره يو ځل بيا د پاچا زړور رنگ وتښتيد او لکه يو ملامت کس، چې د کومې تيروتنې پر وخت شاوخوا سترگې اړوي، يو او بل لورې ته يې وکتل. وروسته يې په وارخطايۍ وويل: تاسو څه وايئ چې پاچا مو څه وکړي څو دا هرڅه سم شي؟

سړي سر ښکته واچاوه او د افسوس په حالت يې څو ځله وخوځاوه، بيا يې زړه ور ته وکتل او په ملنډو يې وويل: که زه پوهيدای چې څه وکړي نو د هغه په ځای به زه پاچا وم!

له دې سره استازي داسې په کړس کړس وخندل لکه چې د سړي خبره پرې ښه لگيدلې وي، خو چې کله يې پام شو زړه ور هغه ته بد بد گوري بيرته سم شو او لاسونه يې خولې ته ونيول، څو خندا يې نور ونه ويني.

سړي خپله خبره وغځوله: که پاچا مو يو ځل سيمې ته سر راښکاره کړي او له موږ څخه وپوښتي چې څه ستونزې لرئ، نو مونږ به ورته خپلې ستونزې ووايو او هم به ورسره مشورې وکړو چې څنگه له دې ناروين څخه خلاصيدای شو.

بوډۍ سر وخوځاوه او د لرگي ماتونکي خبره يې تاييد کړه بيا يې ښځې

ته مخ ورواړوه او ويې ويل:
که خلک له يو بل سره مشورې وکړي او لاس په کار شي، چې ستونزه را پيدا کړي بيا نو د ستونزي د حل لاره اسانه پيدا کيږي.
ښځې هيڅ غږ ونه کړ، د مخته ناست ماشوم پر سر يې لاس تير کړ او سوړ اسويلی يې وايست.
بوډۍ د ښځې په ناهيلی خواشينې شوه او پرته له دې چې نور څه ووايي استازي او زړه ور ته يې د تګ لپاره وويل:
په دې سره دوی له دريمې سيمې هم په داسې حال کې راتير شول، چې هغوی يې په ستونزه کې پريښې وو او هيڅ ډول مرسته يې نه وه ورسره کړې او بده خبره دا چې دوی ته دا هم معلومه نه وه چې د خلکو ددې عجيبه ستونزو لاملونه څه دي اوڅنګه يې حلولی شي.

۴

په لاره کې د اوبو څښلو او دمې لپاره د يوې ښنې او ګڼې ونې سيوري ته کښيناستل. بوډۍ چې اوبه څښلې نو په اوبو کې يې خپل مخ وليد، له دې سره يې خپله لمسۍ(سوله) ورپه زړه شوه، چې تل به يې ورته ويل:
انۍ جانې ستا پر مخ دا ليکې ليکې څه دي؟
بوډۍ به پر خپل مخ لاس تير کړ او وبه يې ويل: دا ليکې نه دي دا

گونځې دي.

-گونځې څه ته وايي؟

-گونځې همدا چې زما پر مخ کې تاته ليکې ښکاري.

-نو ولې زما پر مخ نشته؟

- هې لورې د عمر په تيريدو سره به ستا پر مخ هم راپيدا شي.

- نه زه يې نه غواړم.

بوډۍ به وخندل د لمسۍ په پوزه به يې گوته کيښوده، ورته به يېوويل: که ويې غواړې يا نه اخر پيدا کيږي.

لمسۍ به يې له نازه شاته ځان رنگ کړ او بيا به يې وويل: خو زما نه خوښيږي.

- لومړۍ زما هم نه خوښيدې خو اوس راته گرانې دي.

-ولې درته گرانې دي؟

- ځکه دا مې د خپلې دي يا هم ځکه گرانې دي، چې د ژوند خوږې خوږې خبرې راپه زړه کوي، هغه خوږې خبرې، چې اوس مو له لاسه ورکړې او اوس له مونږ سره نشته، خو دا گونځې وايي چې هغه يو وخت زموږ وې.

بوډۍ ته اوس د هغې لمسۍ هم له هغو نشتو څخه وه، ځکه چې ورسره نه وه خو يو وخت د دې وه. کله کله بوډۍ داسې گمان کاوه چې بيا به هيڅکله هغه ونه ويني.

هغې پر خپل مخ لاس تیر کړ د سترګو شاوخوا ګونځې یې له هغه وخت څخه ډیرې او ژورې شوې وې، بیا یې د تندي ژورې ژورې ګونځې تر سترګو تیرې کړې، داسې ورته وبریښیده چې دا ګونځې د سولې له ورکیدو وروسته د هغې پر مخ راپیدا شوې دي.

ژړا ورغله او له ځانه سره یې وویل: زما وړې ښاپیرۍ! زما سولې! ستا له تورو سترګو قربان شم، خدای خبر چې ته به په څه حال کې یې، انۍ دې ړنده شه چې له تاسره هیڅ مرسته نه شي کولی، نه پوهیږم چې څنګه به دې پیدا کړم.

پاچا زړه ور او استازي د بوډۍ په لوړ غږ ویر واورید، د ډاډ لپاره یې ورته وویل: ترورې ته غم مه کوه. موږ هم د سولې په اړه فکر کوو، خدای مهربانه دی چې یو داسې څه پیدا کړو تر څو موږ سولې ته ورسوو او یا د هغې په بیا موندلو کې له موږ سره مرسته وکړي.

استازي هم ورغبرګه کړه: زه خو وایم چې ښه به وي، په کومو سیمو کې چې مونږ پرې راتیریږو له خلکو څخه د سولې په اړه هم پوښتنه وکړو.

بوډۍ سوړ اسویلی وایست او ویې ویل: زویه ډیره زمانه تیره ده، که یې لیدلې هم وي، د چا به د څو کالو مخکې کوچنۍ نجلۍ په زړه وي.

هسې خپله خلک له ستونزو سره لاس او ګریوان دي.

زړه ور اهمم وکړ.استازي وویل: هو خلک له مونږ سوله غواړي او مونږ له خلکو د سولې پوښتنه وکړو، دا خو به ډیره عجیبه وي!

په دې سره لومړی بوډۍ وخندل، بیا زړه ور او استازي. د استازي دا عادت تر ټولو ډیر ښه و چې د هرې خواشینۍ پر وخت یې نور خندولای شوای.

دوی درې واړه مخ پر وړاندې وخوځېدل. په لاره دری واړه ډیر خواشیني او اندیښمن ښکاریدل، ځکه له خلکو سره یې هیڅ ډول مرسته نه وه کړې او مرسته لا څه چې دوی دا هم نه وه معلومه کړې، چې ستونزه چیرته ده.

له بله پلوه دوی په دې هم پوهیدلي وو، چې سوله یوازې دا نه ده چې په یوه هیواد کې دې جګړه نه وي او خلک دې ونه وژل شي، بلکې که په یوه هیواد کې د خلکو ژوند په کراره نه تیریږي او خلک سوکاله نه وي نو هلته سوله نشته او باید د سولې لپاره کار وشي.

پاچا زړه ور پر خپل اس سپور ورو ورو روان و او سترګې یې په اسمان کې یو نامعلوم شي ته نیولې وې پرته له دې چې کوم څوک یې مخاطب وي، ویې پوښتل:

د خلکو په نظر سوله څه ده؟

استازي هم پاس هماغه لورته وکتل او ورزیاته یې کړه:

که یو څوک په کرار ژوند ونه شي کړی نو وایي چې سوله نشته.

-یعنې یوازې دا نه ده چې چیرته جګړه وي هلته سوله نشته.

هوښیارې بوډۍ وویل: کله چې خلک ځوریږي او خوشحالي نه لري نو وایي چې سوله نشته.

زړه ور پاچا وويل: دلته خو جګړه هم نشته.
-هو جګړه نشته، مګر که د خلکو ستونزې حل نشي نو هغوی يو د بل د حق خوړلو، يو پر بل د تيري او ځورونې هڅه کوي او همدا خبرې جګړې ته لار هواروي.
استازي وويل: يعنې خلک د دې لپاره چې خپلې ستونزې يې حل شي د نورو لپاره ستونزې جوړوي.
هوښيارې بوډۍ وويل: له بده مرغه همداسې يې وګڼه.
استازی: دا خو سم کار نه دی.
پاچا زړه ور: هو انسان ته نه ښايي چې د خپل ځان لپاره نور په ستونزه کې واچوي.
هوښياره بوډۍ: هو دا سم کار نه دی، خو خلک دا کارپه لاسي نه کوي بلکې هغوی په ناپوهۍ کې يو د بل پر حقونو تيری کوي.
استازي وويل: نو د حل لاره څه ده؟
بوډۍ ځواب ورکړ: د دې لپاره چې د دې ناسم کار او بې عدالتۍ مخه ونيول شي نو ښه ده چې خلک ډيرې ستونزې ونه لري.
په تيره بيا نور بايد دوی ته ستونزې جوړې نه کړي.
پاچا وويل: ترورې نو ته څه ګمان کوې چې بل چا به خلکو ته دا ستونزې جوړې کړي وي؟
بوډۍ وويل: له نښو يې خو همداسې ښکاري، دلته ستونزې نوې دي

اوخلک يې په اړه هيڅ نه پوهيږي.
هغه ستونزې چې انسانان يې پخپله ځانته جوړوي نو هغه ورته معلومې وي. هغوی يوازې هغه ستونزې نه شي پيژندلی چې د دوی په خپل لاس نه وي جوړې شوي.
له دې سره ټولو وخندل. پاپي چې د خندا غږ واورید نو په ترپکو ترپکو له هغه ځايه چې مخته تللی و، بيرته د دوی په لوري ستون شو.
پاچا زړه ور غږ پرې وکړ: پاپي! ته هم همداسې وايې؟
پاپي لکۍ خوځوله او پورته پورته يې د زړه ور په لور خيزونه وهل، لکه چې د زړه ور خبره تاييدوي.
دوی همداسې پسې روان وو، تر څو يوې بلې سيمې ته ورسيدل، دا سيمه خوځنده او له شوره ډکه وه، خلک يې په خپلو کارونو بوخت وو، کله به چا په لاره کې سلام هم کاوه او داسې به يې ښکاره کوله چې د نويو ميلمنو له راتگ څخه خوشحاله دی. زړه ور پاچا ايله د کرارۍ ساه واخيسته او خپلو ملگرو ته يې وويل: دا دی شکر دی داسې سيمه مو هم وليده، چې خلک يې کومه ستونزه نه لري، هغوی په کرارۍ په خپلو کارونو بوخت دي او د ښه راتلونکي لپاره هلې ځلې کوي، ماشومان يې په خوښۍ لوبې کوي او مشران هم د هغوی د راتلونکي لپاره هيڅ انديښنه نه لري.
بوډۍ او استازي هم د هغه خبره سمه بلله او دا چې د پسرلي په ښکلې

هوا کې يې يوه نيکمرغه سيمه اوخلک ليدل، نو دوی هم د نيکمرغۍ احساس کاوه.

د یوه ښکلي او نوی کرل شوی باغ د ونو په منځ کې دری اسونه روان وو، د لمر وړانگو د ونو له څانگو د هغوی ولي تودول او ساړه شمال د هغوی خولې وچولې، ځکه خو هر يوه غوښتل چې دا لاره همداسې اوږده شي او تر هغې چې تود لمر ځليږي او سوړ باد لگيږي دوی هم همداسې مخ پر وړاندې روان واوسي.

استازي په داسې غږ لکه څوک چې په خوب کې غږيږي وويل: اخ، دا تود لمراو نری شمال څومره خوږ لگيږي.

زړه ور وويل: هو لمر خو ماته تل داسې ښکاري لکه يو مهربانه ملگری.

استازي ته بيا د ټوکو لپاره خبره پيدا شوه، راسم شو او ويې ويل: په اوړي کې هم؟

زړه ور وويل: د اوړي خبره بيله ده، هغه وخت هم دومره ځورونکی نه دی، ځکه چې ټولې خوندورې او سرې ميوې همدا لمر پخوي او د يخو اوبو او ونې سيوری هم خوند کوي، څو د لمر د تودوخې څخه په امان واوسو.

استازی چې پوه شوی و زړه ور پاچا غواړي د خپلې خبرې لپاره دلايل پيدا کړي، ويې غوښتل له بوډۍ څخه وپوښتي.

د آس جلو يې ونيو او د اس تگ يې ورو کړ، بوډۍ شاوخوا د باغ ونو ته

په حیرانۍ کتل، استازي په خندا ورته وویل: تروري! د پاچا زړه ور خبره دې واوریده؟ هغه وایي چې لمر یې ډېر ښه ملګری دی...
بوډۍ یې خبره پرې کړه او ورو یې وویل: مرغان! مرغان نشته.
استازي هم پاس ونو ته وکتل او بیا یې وپوښتل: کوم مرغان؟ چیرته نشته؟
زړه ور پاچا هم ورنږدې شو او پاس یې د ونو په لوري هغې خواته وکتل چې بوډۍ او استازي کتل.
بیا یې وپوښتل: تاسو څه ته ګورئ؟ هلته څه دي؟
بوډۍ ښکته د زړه ور او استازي په لور وکتل او ویې ویل: دلته هیڅ مرغان نه شته، ما په ټوله لاره کې هیڅ مرغان ونه لیدل.
دوی دوه وو یو بل او بیا یې بوډۍ ته وکتل، زړه ور وویل: دا نو څنګه کیدای شي؟ رښتیا هم دلته کومه ستونزه شته، کنه نو ولې دې په دې پسرلنۍ ښکلې او تازه هوا کې په ټول باغ او بر په اسمان کې یو مرغه هم نه وي؟ دې ته مو ولې  په ټوله لاره پام نه و؟
بوډۍ وویل: دا ځکه چې موږ خپل شاوخوا ته پام نه کوو، که هر څه ته ځیر شو نو ډېر ژر به دا ومومو چې ستونزه چیرې ده. بیا له آس څخه راښکته شوه او چټکه مخ پر وړاندې روانه شوه، ګیډۍ ګیډۍ کمیس یې تر مخې دې خوا آخوا کیده. استازی او پاچا زړه ور هم په هغې پسې شول، خو نه پوهیدل چې ولې هوښیاره بوډۍ داسې پټه خوله مخ پر وړاندې روانه ده او هیڅ هم نه وایي؟ ولې په دې سیمه کې مرغان نشته؟

ولې په وړاندې سيمو کې رنګونه، موسمونه او د ځمکې قوت نه و؟
په همدې فکرونو کې درې واړه يو پر بل پسې روان وو تر څو د يوه سيند غاړې ته ورسيدل، چې د سيمې په منځ کې بهيده او دوو غاړو ته يې ودان کلي وو.
د سيند په غاړه شور ماشور جوړ و، واړه، زاړه، نارينه، ښځې او ماشومان ټول د سيند په غاړه راټول وو، چا کالي مينځل، چا لامبو وهله، چا لوبې کولې، چا کبان نيول، چا هم خبرې کولې او د سيند له ننداري يې خوند اخيست.
داسې ګمان کيده چې ټول خلک د سيند غاړې ته راکوچيدلي او په کليو کې هيڅوک نشته.
بوډۍ، استازی او پاچا زړه ور درې واړه د سيند په غاړه ورګډ شول، اسونو يې د خلکو په منځ کې ځانته په سختۍ لاره پيدا کوله. لږ وړاندې دوی هم اسونه د سيند غاړې ته نږدې د يوې ونې پر ډډه پورې وتړل او د خلکو منځ ته ورغلل. دوی ستړي ستومانه د سيند په غاړه کښيناستل او وروسته له دې چې يې لږ دمه وکړه، پاچا زړه ور له يوې ميرمنې چې جامې يې مينځلې، وپوښتل: ترورې ستاسو دې ته پام شوی، چې دا سيمه مرغان نه لري؟
ميرمنې په حيرانتيا وپوښتل: مرغان نه لري؟ چا ويل چې مرغان نه لري؟ د دې سيمې مرغان چا غلا کړي کنه نو زموږ سيمې تر بلې هرې سيمې

ډېر مرغان درلودل.

بوډۍ وویل: ولې؟ څنګه دې د یوې سیمې مرغان له یوه سره ورک شي؟

ښځې ځواب ورکړ: چیرته چې سوله نه وي هلته هر څه ورکیدای شي، مرغان خو لا پرېږده، موږ لا په دې ډاریږو چې ورو ورو به خپل هر څه له لاسه ورکړو.

پاچا زړه ور په بې وسۍ د بوډۍ او استازي په لوري وکتل، بوډۍ د سر په اشاره هغه پوه کړ، چې غلی شي او څه ونه وایي.

بیا بوډۍ ورو وپوښتل: لورې ما ویل چې مرغان له سولې سره څه تړاو لري؟

یوه سپین ږیري له لرې غږ وکړ: اړه لري، اړه لري!

په هغه هیواد کې چې سوله نه وي، په اسمان کې یې مرغان هم په کرارۍ نه شي ګرځیدای او هغه اسمان چې مرغان ونه لري په هیڅ هم نه ارزي، په هیڅ هم!

دا وطن سوله غواړي او دا اسمان مرغان غواړي!

خو زه دې ته حیران یم چې دا اوسني ځوانان څنګه په دې اړه فکر نه کوي، چې ولې زموږ له اسمانه مرغان ورک شوي او ولې موږ سوله نه لرو؟

موږ خو ټول وطن پسې چاڼ کړ خو ومو نه موندل. اوس د ځوانانو وار دی چې د دې اسمان غم وکړي.

بوډۍ، استازي او زړه ور پاچا له سیند څخه څو ګامه لرې ولاړل او د یوه لوی کمره سیوري ته کښیناستل، بوډۍ له خپلې خورجینې څخه خواړه راویستل او د غرمې ډوډۍ یې وخوړه.
د ډوډۍ خوړولو پر وخت زړه ور په دې اړه فکر کاوه، چې دلته اسمان ولې مرغان نه لري.
بوډۍ هم اندېښمنه وه او اوښکې یې په سترګو کې ګډېدې. د استازي ورته پام شو، ویې پوښتل: ترورې! د څه په اړه فکر کوې؟
بوډۍ اوښلنې سترګې شاوخوا وګرځولې او ځواب یې ورکړ: هیڅ، هسې دا خلک چې د سولې نوم واخلي، ماته خپله وړوکې سوله راپه زړه شي.
پاچا زړه ور په داسې حال کې چې د ډوډۍ پوټې یې دوی ته نږدې د مېږیانو ځالې ته وراچول، ویې ویل: ترورې ته غم مه کوه! مونږ به سوله هرو مرو لټوو، همدا چې د خلکو ستونزې مو ختمې کړې نو کورپه کور او کلي په کلي به د هغې پوښتنه وکړو.
بوډۍ په اندېښمنه څېره زړه ور ته وکتل او ویې ویل: نه زویه! اوس یې وخت نه دی، زه وینم چې دلته خلک ډېر ناراضه دي او له دې ځوریږي، چې په سیمه کې یې کراري نه شته. خلک وایي چې دا ټول د پاچا له لاسه. دا لومړی ځل دی چې وینم دلته ځینې ځایونه له بې رنګۍ نه ځوریږي، څوک له دې شکایت لري چې سیمه یې موسم نه لري، د چا د ځمکې زور ختلی او څوک بیا دې غم اخیستي، چې اسمان یې

مرغان نه لري.

استازي وويل: مگر دا ستونزې دومره لويې ستونزې نه دي، چې خلک دې د هغې له وجې پريشانه شي، خلک د مرگ او يا هم نيستۍ له گواښ سره نه دي مخ، يوازې کوچنۍ کوچنۍ ستونزې لري چې هغه هم په پاچا پورې هيڅ اړه نه لري او دا د طبيعت ستونزې دي، چې هر ځای او هر کله پيښېدای شي. زه خو وايم...

بوډۍ يې خبره پرې کړه او ويې ويل: دا ستونزې وړې نه دي، طبيعت له هر څه ډير مهم دی، که طبيعت گډوډ شي نو ورسره هر څه پر بل مخ اوښتی شي او هره ستونزه، چې کله کوچنۍ وي بايد حل شي کنه نو ستونزه غټيږي او بيا په ناورين بدليږي، چې د ناورين مخنيوی بيا دومره په اسانه نه شي کېدای. مونږ يې له همدې ځايه معلوموو.

زړه ور وويل: هغه څنگه؟

بوډۍ وويل: لومړی بايد معلومه کړو چې مرغان چيرې تللي؟ ښايي د مرغانو له پيدا کيدو راته معلومه شي، چې طبيعت ولې گډوډ دی او هر څه ولې په خپل ځای نه دي. کيدای شي د ټولو ستونزو حل د همدې ستونزې له حل سره تړلی وي.

## ۵

له دمې وروسته پاچا زړه ور او استازی دواړه د سیمې د دوو غرونو په لوري د مرغانو په پلټولو پسې ولاړل، دوی د غرونو کندې او پرښې په مرغانو پسې ولټولې، خو په هیڅ ځای کې یې مرغان څه چې د هغوی بڼکې هم ونه موندلې.

پاچا زړه ور ناهیلی بیرته د بوډۍ خواته ورستون شو. له بله پلوه استازی هم د هغوی په خوا ور روان و، خو کله چې د کلي څخه لرې د کنډوالې ماڼۍ له خوا تیریده یو غټ سیوری یې ولید چې پر سر یې تیر شو. لومړی یې گمان وکړ چې د وریځې یوه لویه ټوټه د لمر مخې ته راغلې او د هغې سیوری د ده پر سر لگیږي، خو چې کله یې پاس اسمان ته وکتل ویې لیدل، چې په اسمان کې هیڅ وریځ نشته. د دوهم ځل لپاره یې بیا یو لوی سیوری ولید، چې له مخې یې تیر شو. بر یې اسمان ته وکتل، یو څه یې ولیده، چې ځرخنده یې له سترگو تیر شو او د ماڼۍ له څنډې پناه شو. گمان یې وکړ چې کوم مرغه یې له سره تیر شوی، ورو ورو د کنډوالې ماڼۍ په خوا ورغی تر څو خپل شک معلوم کړي.

هغه لا ډیر وړاندې نه و تللی چې یو عجیب څه یې ولیدل. یو داسې عجیب څه چې له حیرانتیا یې خوله او سترگې خلاصې پاتې شوې. یو لوی مرغه، دومره لوی لکه یوه وزر لرونکې غوا. که څه هم استازي په غرونو او رغونو ډیر سفرونه کړي وو او ډیر عجیب او ناپیژندل شوي

ژوندي موجودات یې لیدلي وو، خو دا ورته ډېر حیرانونکی و ځکه تر اوسه یې د داسې مرغه په اړه له هیچا څه نه وو اوریدلي.
استازي دوې پښې درلودې دوې یې هم پور کړې، او ځان یې په منډه منډه پاچا زړه ور او بوډۍ ته ورساوه، په داسې حال کې چې له وارخطایۍ او سترړیا یې ژبه بنده بنده کیده لاس یې د کنډوالې په لور ونیو وېې ویل: هلته، هلته، هلته یو څه وو، یو مرغه، نه مرغه نه وو بلا وه بلا، هو مرغه بلا...
زړه ور پاچا ژر هغه ته د اوبو لوښي ورکړ تر څو اوبه وڅښي او ورته یې وویل: مه وارخطا کیږه! هه واخله لومړی اوبه وڅښه! بیا په کراره ووایه چې څه دې لیدلي؟
استازي په ډېره بیړه دوه درې غړپه اوبه وڅښلې، خوله یې په لستوڼي پاکه کړه او بیا یې په رډو او راوتلو سترګو خپل لیدلی حال داسې بیان کړ: زه هلته له هغې زړې ماڼۍ څخه راتیریدم چې یو مرغه، نه یوه بلا مې ولیده!
بوډۍ وپوښتل: بچیه! دا ته څه وایې؟ بلا، مرغه، کنډواله، اخر سم ووایه چې څه دې ولیدل، موږ خو دلته تر اوسه کوم مرغه نه دی لیدلی، تا څنګه ولید؟ زړه ور هم د بوډۍ په خبرې پسې ژر وویل: نو په دې کې څه خبره ده؟ د دې ځای ستونزه همدا وه چې اسمان یې مرغان نه درلودل، اوس چې ته وایې مرغه دې لیدلی نو ښه خبره ده او ښکاري چې دا ستونزه

هواره شوې، له دې سره خو زموږ کار هم اسانه شو.

استازي په لوړ غږ وویل: نه! دا مرغه نورو مرغانو ته ورته نه دی، بلکې یو عجیب مرغه دی، ډېر ویرونکی او بدشکله مرغه. رښتیا وایم، تاسو له ماسره ولاړ شئ او په خپلو سترګو یې وګورئ، هغه یو مرغه ته ورته بلا ده، بلا!

اخراستازی پاڅیده، درې واړه اسونه یې د یوې ونې په ډډه پورې وتړل، پاپې یې هم پوه کړ چې هلته د اسونو تر څنګ واوسي او درې واړه ورو ورو د هغې کندوالې مانۍ په لوري ورغلل تر څو معلومه کړي، چې خبره څه ده؟

دوی مانۍ ته ورسیدل، مانۍ ډېره زړه او ړنګه وه، داسې ښکاریده چې له پیړیو راهیسې چا پکښې ژوند نه وي کړی، انګړ یې له خاورو، بې ثمره کړو وړو ونو او ازغنو بوټو ډک وو. دوی ورو ورو د ننه ورغلل. د مانۍ له انګړ نه د پوټې او زړې خاورې بوی پورته کیده. مانۍ هدیرې ته ورته خاموشه او مړه په نظر راتله.

د مانۍ په لور ورغلي څلور، پینځه زینې لرزیدونکې او ړنګیدو ته نږدې وې اوله هر ګام سره یې غچ غچ کاوه.

د مانۍ د ننه هم د زړې او ورستې خاورې ملایم بوی تر سوږمو کیده.

داسې ښکاریده، چې مانۍ له کلونو مخکې مړه او بې روحه ده.

که څه هم له بهر څخه مانۍ دوه پوړیزه ښکاریده، خو د دوهم پوړ چت

يې نړيدلی و. مانۍ لوی غولی درلود، چې شاوخوا يې لوړ لوړ ديوالونه ولاړ و، کوم چې مانۍ يې په لويو او وړو خونو ويشله. يوازې غنې وې چې په مانۍ کې ډيرې پريمانه تاويدې راتاويدې او تارونه يې ځغلولې وو، د هغوی په ليدو چا داسې گمان کاوه چې مانۍ په اصل کې د غنو کور دی. د خونو له دننه څخه يونری اواز راته، لکه کوچنۍ کوچنۍ پولۍ چې شرنگيږي. دوی ورو ورو د مانۍ په خونو کې راتاو شول، خو هيڅ يې ونه ليدل، يوازې د منځ لويه خونه پاتې وه. دوی چې کله د لويې خونې د منځ په لور ورنږدې کيدل نو د پاوليو د شرنگا اواز هم په زوره کيده.

دلته بوډۍ پښه ونيوله، او خپل لاس يې د زړه ور او استازي مخې ته ونيوه، چې هغوی هم مخته ولاړ نه شي. بيا يې ورو وويل: ښه به وي چې لږ احتياط وکړو، موږ ته نه ده معلومه، چې دا آواز د څه شي دی او په دې هم نه پوهيږو چې دا شی به خطرناک وي که نه.

دوی درې واړو سرونـه ورو د ديـوال لـه کنـج څخـه لويـې خونـې تـه وردننـه کـړل.

د خونې د غولي پر منځ په يوه اخور ته ورته ځای کې يو لوی تور شی ښکاريده چې وچ او شنه واښه ترې چاپير وو.

کله چې د استازي سترگې په هغه تور شي ولگيدې په وارخطايۍ خو ورو يې وويل: هغه دی، هغه دی، هماغه مرغه چې ما يې په اړه تاسو ته

ويلي وو.

بوډۍ او زړه ور دواړو هغې خواته وکتل، بوډۍ وويل: دا به مرغه نه وي، استازی له کنج څخه لږ راديخوا شو، ديوال ته يې تکيه وکړه، ځان يې راوښوياوه او په دوو پښو کيناست. پاچا زړه ور او بوډۍ يې يوه او بله خوا کيناستل او د هغه خولې ته يې کتل چې يو څه ترې واوري.


استازي لاسونه سرته ونيول او ويې وويل: هماغه مرغه دی، هماغه بلا مرغه!

زړه ور او استازی هماغسې د ديوال له څنډې د مرغه په ننداره وو، مرغه په خپل ځای کې داسې خوځيده، لکه چرګه چې په خپلو هګيو خوځيږي، څو ځله تاو راتاو شو، بيا يې خپل وزرونه خلاص کړل او د مانۍ په لويه خونه کې يې په هوا څو دورې ووهلې، بيرته راغی او په خپل ځای کښيناست. پاچا زړه ور او بوډۍ د مرغه څيره له ليرې وليده، هغه رښتيا هم مرغه وو، خو داسې مرغه چې دوی هيڅکله نه وو ليدلی.

د مرغه وزرونه لوی لوی او پرانيستي و، پنجې او مښوکه يې د ښکاري مرغانو په څير ويرونکې، سترګې يې ګردې او رڼې او سر يې بيا له تنې څخه ډير کوچنی او سپک ښکاريده.

مرغه چې له ليرې ډير ډارونکی ښکاريده. کله چې د بوډۍ د لاس لرګی له ديوال سره ولګيد نو له اواز سره يې مرغه په چټکۍ له خپله ځايه پورته شو او لکه پيره چې کوي د کنډوالې په ټولو ړنګو ځايونو خلاص وزرونه

راوگرځيد، بيا بيرته پر خپل ځای کښيناست.
بوډی له مرغه سترګې واړولې او په لويه خونه کې يې شاوخوا وکتل. په دې لويه خونه کې دا لوی مرغه يوازې نه و.
د کنډوالې د ننه پر ديوالونو او تاخچو کې لوی لوی قفسونه راځوړند وو. په قفسونو کې بيلا بيل مرغان په ډير بد حال کې راځړيدل، د چا مښوکه نه وه، د چا پنجې نه وې، د بل بيا سترګې او د بل مرغه وزرونه. يوازې يوه کوتره چې روغه وه د کنډوالې په منځ کې په يوه قفس کې ايساره وه. د کوترې په پښو او غاړه کې له اوسپنيزو مريو جوړه غاړکۍ او د پښو بندونه پراته وو، چې د دې له ګرځيدا سره به يې خوندور شور کاوه.
دوی لږ نور هم ځير شول او ويې ليدل چې عجيب مرغه د کنډوالې



په منځ کې په هغه غټ اخور ته ورته ځای کې پر هګیو ناست دی.
هګۍ یې دومره ډیرې وې چې د دومره لوی مرغه د لویو لویو وزرونو له شاوخوا رواوتلې وې او داسې ښکاریدې چې مرغه غواړي له هغو هګیو بچي راوباسي.

زړه ور او استازی حیران ولاړ وو، چې په دې کې بوډۍ په پټه خوله له لاس څخه راونیول او اشاره یې ورته وکړه، چې باید له دې ځای څخه ولاړ شي.

درې واړه ورو ورو او په پټه خوله له هغې کنډوالې څخه راووتل او بیرته د خپلو اسونو په لوري ورغلل، هلته پاپي د پاچا د اس (بخمل) پړی په خوله پرې کړی و او بخمل هم په ډاډه زړه په شنو وښو کې څریده، استازی په بیړه ورغی او بخمل یې تر پړي راونیو، تر څو یې مخه ونیسي، چې د خلکو پټیو ته ورګډ نه شي.

دوی درې واړو د هغه څه په لیدلو پر خپلو سترګو باور نه شوای کولای.

زړه ور پاچا چې له قهره یې مخ سور اوښتی و، غشی او لینده یې راواخیستل، په قهر یې له هماغه لیرې کنډوالې ته وکتل او بیا یې وویل:
څم چې دا د مرغانو ایسارونکی ختم کړم تر څو یې ټول مرغان له شره خلاص کړم.

بوډۍ غبر پرې وکړ: نه زویه! دا یې د حل لاره نه ده. استازي په ګیله منه لهجه وویل: چې دا یې لاره نه ده نو څه وکړو؟ بیا لکه زاری چې کوي

د بوډۍ په لور ورنږدې شو او د هغې مخ ته یې خپل مخ داسې ورنږدې کړ چې بوډۍ مجبوره شي ده ته وګوري او وېې ویل: ترورې تا په خپلو سترګو ولیدل، چې هغه عجیب مرغه ټول مرغان ایسار کړي او په داسې بد حالت کې یې په قفسونو کې اچولي چې نږدې دي ټول مړه شي.
بوډۍ وویل: لومړی باید معلومه کړو، چې د مرغه هدف څه دی؟ ولې یې دا دومره مرغان راټول او بندي کړي دي؟ او دی پخپله څوک دی؟ ماته خو ښکاري چې دا مرغه کوم خطرناک څه دی چې کیدای شي ټولو خلکو ته خطر پیښ کړي.
پاچا زړه ور وویل: ترورې ته رښتیا وایې. خو دا څنګه معلومه کړو؟ مرغه خو خبرې نه شي کولای او د سیمې خلک په هیڅ هم خبر نه دي.
زړه ور ورغبرګه کړه: مګر هغه کوتره ولې یوازې په یوه قفس کې بنده ده، داسې ښکاري چې مرغه ته هغه کوتره له نورومرغانو ډیر ارزښت لري، زه خو وایم که هغه کوتره والوزي نو کیدای شي مرغه ورپسې ورشي او موږ نور مرغان له بنده راخوشې کړو.
استازي وویل: کوتره څنګه والوزي؟ هغه خو د هغه بدمرغه مرغه له ویرې نه شي الوتلی.
بوډۍ د کندوالې په لور ځیر شوه او وېې ویل: که هغه نه شي الوتلی، موږخو یې الوزولی شو.
زړه ور پاچا او استازي په یوه غږ وویل: مونږ؟

بوډۍ وویل: هو موږ به یې له هغه ځایه راپیدا کړو، بیا به یې والوزوو.
درې واړو یو بل ته وکتل، پاچا زړه ور وویل: ښه خبره ده، موږ به یې له هغه ځایه راپیدا کړو.
له لږ ساعت خبرو او مشورو وروسته درې واړه د کنډواله ماڼۍ په لور ور روان شول او له څه ځنډ وروسته هلته ورسیدل.
دوی ورو ورو د ماڼۍ په شاوخوا نړیدلو کوټو په منځ کې روان وو، چې مرغه یې ونه ویني.
کله به یې له یوې کنډوالې بلې ته منډه کړه، بیا به څو شیبې هلته غلي و چې لږ به ارامه شول بیا به یې له سره مزل شروع کړ.
کله ورو کله په منډه درې واړو ځانونه تر ړنګې ماڼۍ ورسول او هلته د دیوال تر شا په تمه شول چې د مرغه پام په بله شي او دوی کوتره ترې راخوشې کړي.
دوی مازدیگر ناوخته په کنډواله کې څار شروع کړ خو تر ماښامه یې ونه شو کړای، چې د کوترې د خلاصون لپاره کومه لاره ومومي ځکه مرغه په خپلو هګیو ناست او دوې سترګې یې د کوترې په لوري نیولې وې، کوتره هم د مرغه مخې ته په قفس کې یوه خوا او بله خوا ګرځیده.
ورو ورو دوی ناهیلي کیدل، چې د مرغه پام په بله کړي او یا کوتره له قفسه خوشې کړي.
استازي وویل: راځئ چې نور له دې ځایه ولاړ شو، هوا نوره هم تیاره

کیږي او مرغه له کوترې سترګې نه اړوي، ښه به دا وي چې د دې کار لپاره یوه بله چاره پیدا کړو او سبا سهار وختي بیا ورته راشو.

بوډۍ وویل: د اوس لپاره خو تر ټولو ښه چاره همدا ده، ښه به وي چې د کوترې د رانیولو لپاره لږ نور هم صبر وکړو.

استازي وویل: څومره صبر؟

پاچا زړه ور چې د دیوال له کنج نه یې مرغه ته کتل، ویې ویل: تر هغې چې مرغه خوب یوسي.

هوښیارې بوډۍ وویل: زړه ور سمه خبره کوي موږ بله چاره نه لرو، باید تر هغې صبر وکړو چې مرغه خوب یوسي. کله چې مرغه خوب یووړ، نو د کوترې د غلا کولو لپاره ښه وخت دی، د ورځې له خوا هیڅ کار هم نه شو کولای.

دوی د شپې تر ناوخته په تمه پاتې شول خو مرغه خوب یو نهووړ او همداسې په رڼو سترګو یې کوترې ته کتل، کوتره هم چې له ګرځیدو راګرځیدو ستړې شوې وه نور یې د پښو شرنګهاری غلی غلی او په مدار اوریدل کیده. په استازي، زړه ور پاچا او بوډۍ هم خوب ورغی او تر ډیره په خواږه خوب ویده شول، سهار وخته په قفس کې بند چرګ په لوړ آواز بانګ وکړ او له ټولو مرغانو سره یې دوی درې واړه هم له خوبه راویښ کړل، بوډۍ چې سر راپورته کړ ګوري چې استازی او زړه ور پاچا هم سترګې موښي. ورو یې وپوښتل: تاسو هم ویده شوي وئ؟

هغوی دواړو سترګې موښلې او حیران حیران یې شاوخوا ته کتل، دوی هیڅ نه پوهیدل چې څه ووایي.
د څو شیبو لپاره درې واړه ناهیلي او له خپل کاره پښیمانه د دیوال خواته ناست وو، نه پوهیدل چې څه وکړي.
بوډۍ زړه نازړه ،ورو د دیوال له کنډوالو څخه د مرغه او کوترې پر لوري وکتل، د کوترې د پښو د شرنګهاري اواز اوس چن چن تر غوږه کیده، خو د مرغه سترګې د تیر په څیر رډې او بیدارې نه وې.
هوښیارې بوډۍ اوه !کړل، خولې ته یې لاس ونیو او بیرته په خپل ځای کښیناسته. بیا یې په خوشحالۍ له ځانه سره وویل: زما خدایه، دې ته مو ولې د مخه پام نه وو! زړه ور وویل: څه ته؟
بوډۍ وویل: دا چې د مرغه سترګې کوم مرغه ته ورته دي.
استازي وویل: نه ما تر اوسه داسې مرغه نه دی لیدلی.
زړه ور پاچا یې خبره پرې کړه: کونګ، کونګ! زه له اوله پرې پوه وم، سترګې یې کونګ ته ورته دي.
بوډۍ وویل: هو نو کونګ خو ټوله شپه سترګې پرانیزي او د ورځې یې بیا سترګې پټې وي. هغه دي د مرغه سترګې هم مخ په پټیدو دي.
بیا یې داسې په خوشحالۍ وکتل، لکه کوم ارزښتمن څه یې چې موندلي وي. استازي او زړه ور بیا یو بل ته وکتل او د برې په دود یې لاسونه سره ورکړل.

شیبه په شیبه چې څومره هوا روښانه کېده او لمر لمن غوړوله، د عجیب مرغه سترګې سره ورتلې، په پای کې یې سترګې پټې کړې او داسې ښکارېده چې ویده شوی وي.
همدا چې دوی درې واړه له دې څخه ډاډه شول، چې د مرغه سترګې پټې شوې او څه نه ویني نو په بېړه یې ځانونه د مرغه د ناستې ځای ته ورنیږدې کړل. پاچا زړه ور کرار کرار ورغی، د قفس دروازه یې ورو ورخلاصه کړه، کوتره یې چې اوس ډېره ستړې شوې وه، راونیوه او په خپل خورجینې کې یې واچوله او په منډه له هغه ځایه ووت. درې واړه په بېړه بېړه له کنډوالې مانۍ او کلي څخه لرې د خپل اسونو او پایې خواته ورغلل، زړورکوتره له خورجینې څخه راویسته چې خوشې یې کړي خو بوډۍ یې لاس ونیو او ویې ویل: بچیه! کله چې مرغه د کوترې په پلټلو پیل وکړي نو موږ به تر هغه ورسره جګړه کوو تر څوچې ټول مرغان یې له بند څخه خلاص کړو، د دې لپاره باید موږ هم تکړه واوسو. بیا یې استازي ته مخ ورواړوه او ورته یې وویل: که غواړو چې په خپل کار کې بریالي شو، ښه دا ده چې لومړی ځانونه تیار کړو، خواړه وخورو او په دې اړه پرېکړه وکړو چې څنګه او چیرته به جګړه کوو.
زړه ور کوتره بیرته په خورجینې کې واچوله، خوله یې وربنده کړه او خورجینه یې په ونه کې ځوړنده کړه. د ورسره خوړو او ونې له تازه میوو یې د ځان لپاره ښه خوندور سباناری تیار کړ او د خوړلو پر وخت یې

د دې په اړه سره خبرې وکړې چې کله مرغه له کنډوالې ماڼۍ څخه راووځي او د کوترې په پلټلو پیل وکړي نو دوی به څنګه پرې حمله کوي او مرغان به یې له بنده خلاصوي.

کله یې چې د یو بل نظرونه او مشورې واوریدې نو پاچا زړه ور پاڅید او خپله خورجینه یې د ونې له ښاخ څخه راواخیسته، کوتره یې ترې راویسته او بوډۍ ته یې ورکړه. بوډۍ په کراره د کوترې له غاړې او پښو څخه د اوسپنې د مریو زنګولې چې د کوترې لپاره ډیرې درنې وې، خلاصې کړې او هغه یې ورو هواته وخوځوله تر څو والوزي، خو له دې سره سم یې یو داسې څه ولیدل چې په لیدو یې هک پک پاتې شول.

هو یو ډیر حیرانونکی څه!

کوتره په یوې پیغلې نجلۍ بدله شوه. د نجلۍ سپین اوږد کمیس په غاړه و او خرمایي ویښتان یې پر مخ پراته وو، چې څیره یې سمه نه ترې ښکاریده، یوازې تورې سترګې یې د ویښتو له منځه داسې ځلیدې لکه تورې مرۍ.

دوی نه پوهیدل چې له حیرانۍ څه ووایي. نجلۍ له خپل مخ څخه ویښته لرې کړل، دوی ته د نجلۍ څیره ډیره اشنا ښکاریده، داسې لکه دا څیره یې چې کلونو پخوا چیرته لیدلې وي. نجلۍ هم دوی درې واړو ته داسې حیران حیران کتل لکه دوی چې پیژني...

نجلۍ بوډۍ ته د څو شیبو لپاره ځیره شوه، یو دم یې له خولې چیغه ووته:



انۍ! انۍ جانې دا ته یې؟

بوډۍ هم نجلۍ وپیژندله او په ناباورۍ یې وویل: څه؟ انۍ؟ ته، ته زما....

او له دې سره یې خپل دواړه لاسونه د نجلۍ په لوري  وغځول او په ژړا ژړا یې  وویل: زما وړې لورکۍ! زما سولې! زما ورکې سولې.

نجلۍ په لویدلي غږ چې ډیر په سختۍ اوریدل کیده، وویل: انا جانې! زما ګرانې انۍ... نور یې غږ په ریږدیدا شو او نه اوریدل کیده، چې څه وایي.

استازي او زړه ور پاچا هم دوی ته په ځیر ځیر کتل، خو لا هم نه پوهیدل چې دا نجلۍ او بوډۍ څنګه یو بل سره پیژني، تر څو هوښیارې بوډۍ مخ ورواړاوه او ورته یې وویل: بچیانو دا مې خپله لمسۍ ده، زما وړکۍ سوله، زما ورکه سوله!

بیا یې نجلۍ ته ټینګه غېږه ورکړه او هغه یې په مخ، سترګو ښکلوله. نجلۍ هم په ژړا د بوډۍ له غاړې لاسونه تاوو کړل او دواړو ښه سره وژړل. پاچا زړه ور او استازی اوس پوه شوي وو، چې دا د دوی د ماشومتوب د لوبو ملګرې او د هوښیارې بوډۍ لمسۍ، سوله ده نو ډیر خوشحاله شول.

بوډۍ له سولې په کراره وپوښتل: زما د سترګو تورې ته دا راته ووایه چې دلته څنګه راغلې، څنګه د دې بدرنګه مرغه په دام کې راګیر شوې؟

سولې خپله پوزه کش کړه، بیا یې سترګې ښکته واچولې او ورو ورو یې وویل: انۍ جانې په هغه ورځ چې ما د کلا تر مخ لوبې کولې، هلته مې یوه کوتره ولیده چې په ټوپونو ټوپونو زموږ د ماڼۍ له دروازې نه مخ په بهر روانه ده.

د کوترې په غاړه او پښو کې زنګولې پرتې وې، چې ډیره ښکلې شرنګا یې کوله. ما غوښتل چې کوتره راونیسم اوځان سره یې کورته یوسم. کوتره مخ په وړاندې روانه وه او زه هم ورپسې روانه شوم، نه پوهیږم چې څومره پسې لاړم خو کوتره مې ګیر نه شوای کړای. یو وخت مې پام شو چې ډیره لرې تللې یم. کوتره والوته او په اسمان کې یې څو دوره ووهل، له دې سره د رنګارنګو مرغانو سیل راغی او زه یې له ځان سره واخیستم او دلته یې راوستم ،وروسته پوه شوم چې همدې بدمرغه مرغه دا ټول مرغان او کوتره د دې لپاره چې ما ونیسي زموږ ښار ته رالیږلي و. کله چې

مرغانو زه ورته راوستم نو دې جادوگرمرغه له هغو ټولو مرغانو څخه د وجود یو یو غړی پرې کړ او خپل ځان یې ترې ورغاوه، مخکې له دې دا مرغه یوازې د یوې کوترې په څیر و، خو کله چې یې د نورو مرغانو قوت ولید او پوه شو چې کوتره یوه بې ازاره او له نورو مرغانو کوچنۍ ده نو د هغې روح یې په خپل وجود کې بند کړ او د وجود نور غړي یې له غښتلیو مرغانو راوخیستل.

اوس یې زه د دې لپاره ساتلې یم، چې هغه ته د کوترو په پښو او غاړه کې د شرنگونو اواز خوند ورکوي او ورسره ښه ارام کولی شي. زه په اصل کې انسانه یم د کوترې په څیره کې او د کوترې روح د همدې مرغه په وجود کې بند دی. سولې چې د خپلې ورکیدو کیسه خلاصه کړه نو په ژړا یې پیل وکړ او په ویره یې خپلې انۍ ته وویل: انۍ جانې که مرغه خبر شي چې زه دلته یم نو ما به ژوندۍ پرې نه ږدي. هغه ډیر زورور مرغه دی، ما به مړه کړي.

بوډۍ چې د لمسۍ د کیسې په اوریدلو یې لپې لپې اوښکې تویولې خپله لمسۍ یې ټینگه په غیږ کې ونیوله او هغه یې پر مخ ښکل کړه، بیا یې د هغې متې په خپلو دواړو لاسونو ونیولې، مخامخ د هغې سترگو ته ځیر شوه او په داسې حال کې چې له ژړا وروسته یې یوه ژوره ساه اخیسته، ویې ویل:

لورې ته مه ویریږه زه راغلې یم، بیا یې پاچا زړه ور او استازي ته مخ

وروارړوه او لاسونه یې په سینه کیښودل: موږ ټول راغلي یو تا به له دې ځایه خلاصه کړو، هیڅ به هم نه کیږي، ته غم مه کوه. دا وینې؟ دا زړه ور دی، د پاچا صاحب زوی او دا هم استازی دی. دوی خو به دې په زړه وي؟ ستا د ماشومتوب د لوبو ملګري.

سولې د سر په خوځولو د هغوی په لوري وکتل او ویې وخندل.

پاچا زړه ور او استازی هم ور مخته شول او سولې ته یې ډاډ ورکړ. زړه‌ور وویل: هو سولې موږ ټول به په ګډه دا بدجنسه مرغه له منځه یوسو، خو ته چې د مرغه په اړه په هر څه پوهیږې نو موږ ته یې ووایه، ستا هره خبره له موږ سره د مرغه په منځه وړلو کې مرسته کولای شي.

سولې په خپلو دوارړو لاسونو اود سر په خوځولو ویښتان له خپل مخې لیرې کړل، بیا یې دوی دوارړو ته وکتل او ویې ویل:

دا مرغه په اصل کې کوم مرغه نه دی، بلکې د نورو مرغانو له وجود څخه رغیدلی یو ځناور دی. لکه دا چې هغه خپل وزر له عقاب څخه اخیستي، د هغه مښوکه د ټپوس، پنجې یې د باز او سترګې او غوږونه یې د کونګ، غږ یې د کارغه او سر یې د مرز دی. مرغه زړه نه لري، د زړه په ځای یې په سینه کې یو کلکه تیږه ایښې، ځکه خو داسې سخت زړه دی. همداسې یې د بدن نور غړي هم له بیلابیلو مرغانو اخیستي.

زړه ور وویل: دا دی په دې خو پوه شوو چې مرغه د نورو مرغانو د بدمرغۍ سبب ګرځیدلی.

سولې وويل: هو يوه بله خبره هم شته، اوس خو مرغه ځکه نور مرغان بند کړي چې د هغوی د وجود غړي له ده سره دي، خو تر ټولو بد څه به هغه وخت پيښ شي چې د مرغه بچي له هګيو را ووځي.
بوډۍ، زړه ور او استازي په يوه غږ وويل: څه بد؟ د مرغه هګۍ په دې پورې څه اړه لري؟
استازي وويل: نه چې مرغه غواړي چې خپل بچي په نورو مرغانو وويشي او هغوی ته ووايي چې تاسو يې ماړه او ستر کړي، هسې زه پوهيدم چې يو مرغه دومره ډير بچي په يوازې ځان نه شي رالويولی، هو رښتيا دا مرغه خو جوړه هم نه لري، دا به ورته ډيره سخته وي چې په يوازې سر دې خپل بچي رالوی کړي...
سولې خپلو غوږونو ته لاسونه ونيول او بيا يې په بې وسۍ دوی ته وکتل او وې ويل: زه غواړم چې تاسو پوه کړم، خو تاسو غوږ نه نيسئ، زړه ور او بوډۍ دواړو استازي ته وکتل، استازي خپل لاس په خوله کيښود او داسې يې وښودل، چې نور غلی دی او څه به نه وايي.
سولې خپله خبره پسې وغځوله: دغه مرغه په دومره موده کې يې  چې ژوند پيل کړی ښې ډيرې هګۍ اچولې، په لسګونو نه بلکې په زرګونو، اوس مرغه په هغه ناست دی او غواړي خپل بچي راوباسي، که د هغه بچي راووځي نو ټول اسمان به په سر واخلي بيا به بل کوم مرغه په اسمان کې پاتې نه شي او د سيمې ټول اسمان به د همدې مرغه بچي ونيسي،

خو د هغه بچي به د ده په څېر کمزوري نه وي ځکه چې د هغوی ټول غړي به خپل وي او دومره قوت به ولري چې له انسانانو سره جګړه وکړي او نسل يې له منځه يوسي.

دوی درې واړو د سولې خبرو ته ډېر په ځير غوږ نيولی وو او ورو ورو يې په دې سر خلاصيده، چې مرغه ډېر خطرناک دی، دومره خطرناک چې دوی يې فکر هم نه شوای کولی.

اوس نو دوی ځلور واړو له مرغه څخه ډېره د هغه د هګيو په اړه انديښنه درلوده. هغوی ډاريدل چې که د مرغه بچي له هګيو راووځي نو ټول اسمان به په سر واخلي، د مرغانو ژوند به له منځه ولاړ شي او له دې سره سره به د انسانانو ژوند ته هم ګواښ پيښ کړي.

زړه ور، بوډۍ ته مخ ورواړوه او ترې ويې پوښتل: تروري ستا څه نظر دی؟ دا خطر څنګه له منځه يوسو، لومړی بايد څه وکړو؟

بوډۍ له څه ځنډ وروسته وويل: دا يو ډېر لوی خطر دی او مونږ ډېر کم وخت لرو، خو که پوره چمتو والی ولرو نو کولای شو، چې پرې بريالي شو.

دوی په خپل منځ کې له مشورې وروسته د کنډوالې په لور روان شول. کنډواله له لرې ډارونکې او خطرناکه ښکاريده او دوی دا انديښنه درلوده چې که د مرغه بچيان له هګيو راووځي نو دوی به څه کوي؟ په نورو مرغانو او انسانانو به څه راشي؟ او داسې نورې ډېرې بې ځوابه پوښتنې...

ټول مخ په واړندې روان وو او د هر يوه په زړه کې دا ډاډ و، چې د مرغه له شره به خلک او نور مرغان خلاصوي، خو له دې ويرې سره چې څنګه؟ کله چې دوی کنډوالې ته ورننږدې شول نو له کنډوالې څخه يو ډېر خطرناکه غږ راووت. سوله پښه نيولې شوه او ورو يې وويل: اوه زما خدايه!

هوښيارې بوډۍ، پاچا زړه ور او استازی ټولو سولې ته وکتل تر څو ترې وپوښتي چې څه خبره ده.

سولې وويل: د مرغه د وزرونو اواز راځي، هغه راويښ شوی او ګمان کوم چې دې ته به يې هم پام شوی وي، چې زه هلته نه يم.

زړه ور وويل: سولې! ته غم مه کوه، موږ درسره يو. موږ نه پرېږدو چې ته يوازې له هغه ناوړه مرغه سره مخامخ شې.

کله چې استازي د کنډوالې له کنډو څخه ورو د مرغه د کښيناستو ځای ته وروکتل ويې ليدل چې مرغه په خپل ځای کې خوځيږي او يو بل خوا مخ اړوي نو ورو يې د لاس په اشاره دوی ته اشاره وکړه چې دوی هم راشي او وروګوري.

سوله، بوډۍ او زړه ور پاچا درې واړه د استازي تر څنګه ودريدل او کرار کرار يې مرغه ته کتل.

مرغه هماغسې په خپل ځای کې ځای په ځای خوځيده او يو خطرناک غږ يې هم ايسته، داسې ښکاريده چې ډېر په غوسه دی او د کوم څه په

لته کې دی.

سولې وویل: هغه دی مرغه په ماپسې ګوري ځکه زما د پښو د شرنګونو غږ یې نه دی اوریدلی ، هغه پوه شوی چې زه نه یم. هغه که پوه شي، چې زه دلته یم نو له ما سره به تاسو هم له منځه یوسي او یا به مې بیا په کوتره یا کوم بل مرغه بدله کړي. نیا یې د سولې پر سر لاس تیر کړ او ډاډ یې ورکړ: زما ګرانې بچې ته مه وارخطا کیږه! هغه هیڅ هم نه شي کولای، موږ ټول درسره یو.

پاچا زړه ور استازي ته وکتل او وېې ویل: مونږ باید دا معلومه کړو چې مرغه له څه شي څخه ویره لري او څنګه له منځه ځي.

استازي وویل: نه پوهیږم چې دا هر څه څنګه معلوم کړو، خو دومره پوهیږم چې نه غواړم څو د خپل وجود یوه برخه مرغه ته ورکړم، ځکه که هغه له منځه یو نه سو نو زموږ د بدن غړي به هم راڅخه بیل کړي او خپل وجود به لا نور پیاوړی او غښتلی کړي.

یا نه پوهیږم هغه که بل څه ته اړتیا ونه لري او وجود یې نیمګړی نه وي نو کیدای شي چې هغه مو په نورو مرغانو بدل کړي.

یو چرګ، یا هم یو کارغه یا مږز، وی خدایه! که زه یو مږز شم څه به کوم، ماته خو د مږز خویونه هیڅ معلوم نه دي.

د هغه په دې خبرې ټولو ته خندا ورغله، خو هوښیارې بوډۍ ورو وویل: دا د ټوکو وخت نه دی، داسې ښکاري چې د مرغه بچیان له هګیو څخه

په راوتلو دي، ځکه خو مرغه له هګیو نه شي خوځیدلی او هملته ځاي پر ځای ناست دی.

زموږ وخت لږ دی او باید ژر تر ژره مرغه له منځه یوسو.

استازي زړه ور ته وویل: زړه وره نن دې توره ماته راکړه. زړه ور خپله توره هغه ته ورکړه او خپل د غشو کڅوړې ته چې په شا یې وه لاس کړ ځو په خپله لینده کې غشی کیږدي، بوډۍ ته یې مخ ورواړوه وې ویل: زه به په مرغه د غشي وار وکړم او له هغه وروسته به ټول د هګیو په ماتولو پیل وکړو.

هوښیارې بوډۍ په بیړه وویل: نه، نه، ته د غشې وار ونه کړې، مرغه یو مخ خوځیږي او کیدای شي چې غشی دې په ځای ونه لګیږي.

دوی په خپلو منځو کې غلي غلي غږیدل، د مرغه اواز نور هم لوړ شو او اوس یې نو داسې غږ کاوه چې تا به ګمان کاوه چې د کارغه په ستوني کې څه نښتي وي او غږ یې له ستوني په سختۍ راوځي.

هوښیاره بوډۍ او نور وارخطا شول چې مرغه پر دوی حمله ونه کړي، زړه ور له خپلو غشو څخه یو راواخیست د مرغه سر یې په نښه کړ او په پوره زور یې لنده کش کړه او غشی یې ترې خوشې کړ، غشی له کمان څخه په ډیره تیزۍ روان شو.

ټولو سترګې غشي ته نیولې وې او کتل یې چې غشی به په هدف ولګیږي که نه؟

دوی پوهیدل که غشی په هدف ونه لګیږي، مرغه به د دوی ځای پیدا کړي او ټول به په خپلو خطرناکو پنجو له منځه یوسي او هیڅوک به د دې مرغه له شتون او د ورپیښې بدمرغۍ څخه خبر نه شي تر څو یې مخه ونیسي.

غشی هماغسې په تیزۍ ولاړ، ولاړ، ولاړ او د مرغه له سره سیخ تیر شو، د زړه ور رنګ ژیړ واوښت، دوی څلور واړه پوه شول چې نور یې کار خلاص دی او د مرغه له لاسه یې خلاصون نه شته، خو داسې نه وه او د دوی بخت ښه و. غشی د مرغه په سر پورې د یوه لوی قفس په کولپ ولګید چې مرغان په کې بندیان وو، کولپ ټوټې ټوټې پر ځمکه توی شو او د قفس دروازه پر مخ خلاصه شوه. د زړه ور او ملګرو یې په خپلو سترګو باور نه کیده چې نښه دې داسې په ځای لګیدلې وي او مرغان دې د دې ظالم مرغه له شره خلاص شوي وي. مرغان خو له بند څخه خلاص شول او ټول مخ په بهر والوتل خو بدمرغي دا وه چې د دوی د وجود غړي پوره نه وو،

د کنډوالې لوی انګړ زخمي مرغانو په سر واخیست، ځینو ترپکې وهلې، ځینو وزرونه رپول، داسې مرغان هم وو چې له درد څخه یې ډول ډول غږونه ایستل او په انګړ کې یې زوږ جوړ کړی و.

مرغه چې ولیدل مرغان له بند څخه خوشي شوي نو چیغار او کاغ کاغ یې لا په زوره شو او په ډیر قهر یې په یوه یوه مرغه پسې پنجې اچولې تر

ځو یې راونیسي او بیرته یې په قفس کې واچوي، خو هیڅ یې نه شوای کولای.

اخر اړ شو چې د مرغانو په ټولولو پسې د کنډوالې له کړکۍ نه بهر ووځي او په اسمان کې د هغوی په رانیولو پسې والوزي.

بوډۍ استازی، سوله او زړه ور د نورو قفسونو د دروازو پرانیستلو ته ولېږل چې نور مرغان هم له بنده خوشي کړي او خپله یې ځار کاوه چې مرغه بیرته راونه ګرځي.

هلته چې کلیوالو د کنډوالې ماڼۍ له دودکش او کړکیو څخه د تورو تورو نا پیژندل شویو شیانو راوتل او بیا په ځمکه لویدل ولیدل نو وارخطا یې یو بل راخبر کړل، تر څو ځانونه پوه کړي چې دا څه دي.


که څه هم دا ماڼۍ له کلونو راهیسې همداسې کنډواله ولاړه وه ،خو تر اوسه چا داسې عجیب څه د دې ماڼۍ د ننه نه وو لیدلي. د کلي مشرانو به ویل چې دا ماڼۍ یو وخت د اوسني پاچا نیکونو رغولې وه او کله به چې اوړی دلته په ښکار پسې راتلل نو په ماڼۍ کې به اوسیدل، چې بیا وروسته د هغوی راتګ دې سیمې ته کم شو او ماڼۍ هم ورو ورو ړنګه او په کنډوالې بدله شوه.

## ٦

د کلیوالو نر، ښځې، واړه اوزاړه په بیړه او حیرانۍ د کنډوالې په لوري روان وو، هلته بر په اسمان کې ناپیژانده او د یوې خیمې په کچه لوی تور مرغه ته ورته کوم څه په اسمان کې د نورو وړو وړو الوتونکو پسې شاوخوا الوته. ټېپي او په بد حالت کې له بند څخه خلاص شوي مرغان چې یو یو یې د مانۍ څخه الوتلی و، په اسمان کې یو لور او بل لور الوتل او یو له بل سره لګیدل یا هم بیرته په ځمکه رالویدل.

کلیوال ورانې مانۍ ته ورننږدې شول او له لرې یې د دوی کلي ته راغلي ناپیژانده مساپر ولیدل چې په مانۍ کې وارخطا وارخطا ولاړ دي. خلکو ګمان وکړ چې دا هر څه د همدې مساپرو کار دی، یوه کلیوال په نورو غږ وکړ: هلۍ دا هر څه د همدې نا پیژندو مساپرو له لاسه راپیښ شوي، دوی زموږ د اسمان مرغان غلا کړي او دلته یې ایسار کړي وو، مه یې پریږدئ چې درنه وتښتي! همدلته یې را ایسار کړئ!

دویم تن یې ژر مخې ته ودرید او ویې ویل: لومړۍ خو دا باید معلومه کړو چې ستونزه څه ده؟ ماته دا مساپر بې غرضه خلک ښکاري، بل له هغوی سره میرمنې دي، موږ له هغوی سره جګړه نه شو کولای دا لوی عیب دی.



بیا همدې سړي استازي ته لاس وخوځاوه او غږ یې پرې وکړ: اې هې!

اې مساپره! کله چې د استازي هغوی ته پام شو، کلیوال پوښتنه ترې وکړه: اې مساپره! دلته څه پیښه ده؟ دا په اسمان کې څه شی الوزي؟ خیر خو به وي؟

استازي خپل دواړه لاسونه خولې ته ورنږدې کړل چې غږ یې خور نه شي بیا یې په لوړ غږ ورنارې کړې: هلئ مرسته وکړئ! دا یو بدمرغه مرغه دی چې ستاسو د کلي د اسمان ټول مرغان یې په ډېر بد حالت کې دلته ساتلي او بندیان کړي یې دي.

کله چې خلک کنډوالې ته رانیږدې شول نو زړه ور یې ولید چې غشی په لاس هڅه کوي ترڅو هغه لوی مرغه پاس په اسمان کې په نښه کړي او مرغه ډېر په تیزۍ هر لورې په نورو مرغانو پسې الوزي، له خولې یې

ډیرې ویرونکې کرغېړې راوځي او ډیر په غضب ښکاري.
سولې پر کلیوالو غږ وکړ: همدا مرغه ستاسو د کلي د اسمان د بدمرغۍ سبب شوی، دا مرغه په اصل کې یوه ویرونکې بلا ده چې کلونه کلونه یې زه په خپل بند کې ساتلې وم.
یو تن کلیوال وپوښتل: خو موږ له دې کندوالې نه هیڅ هم نه دي لیدلي. دلته خو تل کراره کراري وه.
سولې وویل: هو، ځکه مرغه ډیر چالاکه و، هغه به د شپې لخوا بهر وتلو، خو د ورځې به د ننه په مانۍ کې غلی پر خپلو هګیو ناست وو...
په همدې وخت کې مرغه په چټکۍ د دوی په لوري راټیټ شو، کلیوالو هووووووووووووو وکړل او سرونه یې ټیټ کړل، مرغه بیرته په هماغه چټکۍ پورته وخوت او پر اسمان کې په الوتو شو.
بوډۍ هم چې له ویرې خپل سر ښکته کړی او د سولې سر یې په خپلې سینه پورې نیولی و، بیرته یې سر راپورته کړ او ویې ویل: دا مرغه په اصل کې د نورو مرغانو له وجود څخه خپل ځان رغولی.
یوې کلیوالې ښځې یې خبره پرې کړه: خورې دا څه وایې؟ زما خو ستا په خبرو هیڅ سر خلاص نه شو، دا مرغه څنګه له نورو مرغانو رغیدلی؟ دا څه کیسه ده؟
بوډۍ په داسې حال کې چې لاس یې پر تندي نیولی و او په اسمان کې یې د مرغه ننداره کوله، په بیړه بیړه یې د مرغه او د سولې کیسه او دا چې

ځنګه دا ټوله پاچايي د مرغه له لاسه بدمرغه شوې، خلکو ته وکړه. هغې دا هم وويل چې ځنګه يو ځای خلک د رنګونو له نه شتون څخه، څوک د موسمونو له نيستی او څوک له دې ځوريږي چې ځمکه يې ځواک او اوبه نه لري، لکه دوی چې وايي اسمان يې مرغان نه لري.
کليوالو ټولو د بوډۍ خبرو ته غوږ وو.
بوډۍ وويل: تر ټولو بده يې دا دی چې دې بد ذاتي زما لمسی په کوتره بدله کړې وه، د هغې ستونی له ژړا راډک شو، د لمسی پر اوږه يې لاس کيښود او وېي ويل: کلونه کلونه يې زه د خپلې لمسی څخه جلا کړې وم. بيا يې پر زړه ور غږ وکړ: زړه وره زويه! وايم په غشي يې ووله او ښکته يې راوغورځوه چې نور يې له شره خلاص شو. مرغه پاس په اسمان کې په پوره قوت او قهر شاوخوا الوته او کړيکې يې وهلې.
کليوالو ټولو پاس اسمان ته خولې خلاصې نيولې وې، چا لاسونه په تندي نيولي وو، څوک د بل په پښه ورولاړ و او چا يوه سترګه پټه کړې وه چې په بله سترګه مرغه سم ووينې. د کلي ځينو ماشومانو چې نوي يې مرغان په اسمان کې ليدلی و، ډله د کنډوالې په لوري ورروان وو او منډې يې وروهلې چې وګوري دا څه دي.
خلکو د هغوی په ليدو وويريدل چې هسې نه قهريدلی مرغه ماشومانو ته تاوان ورواړوي، پر هغوی يې له هرې لورې نارې وهلې: دې خوا مه راځئ!

دلته مو هغه مرغه نه پرېږدي، مه راځئ!

خو ماشومانو د هغوی خبرې نه اورېدې او یا یې که اورېدې، نه یې غوښتل چې دا نوې ننداره له لاسه ورکړي او پرته له دې چې د هغوی خبرو ته غوږ ونیسي په بېړه د کنډوالې په لور ور روان وو او شور ماشور یې ټوله سیمه په سر اخیستې وه.

ماشومان چې کنډوالې ته رورارسیدل مرغه نور هم قهرجن شو او یوځل بیا د هغوی په لوري په تیزۍ راټیټ شو، یو ماشوم یې په قهر په خوله کې واخیست او پاس یې اسمان ته پورته کړ. خلکو چیغې پیل کړې: هلی هغه ماشوم د چا دی؟ مرغه ماشوم وواژه! هې مساپره، ژر کوه هغه ماشوم وژغوره!

په دې کې د ماشوم مور په چیغو شوه: وی خدایه! دا خو زما زوی دی! هله چې زوی یې راته وواژه! د ماشوم مور د زړه ور په لور ورمنډې کړې د هغه لینده یې په زوره ترې راکش کړه او ورته وویل: د خدای په خاطر زما زوی راته وژغوره! هغه به راته مړ کړي، د خدای لپاره، خیر دی یو څه وکړه.

زړه ور چې ولیدل ماشوم په هوا کې لاس او پښې خوځوي او چیغې وهي، مرغه هم په قهر هغه په خوله کې یو خوا بل خوا تاووي او هڅه کوي چې په دې توګه خلک وډار کړي، نو غشی یې یو ځل بیا په لینده کې سم کړ او دا ځل یې بیا د مرغه په لوري نښه ونیوه. سولې چې له لیرې

زړه ور ولید چې مرغه ته یې لینده سمه کړه، یو اړینه خبره ور په زړه شوه، ژر یې غږ پرې وکړ: زړه وره! پام چې مرغه یوازې د دوو سترګو تر منځ وولې، که له هغې پرته د مرغه بل ځای په نښه کړې نو هیڅ ګټه به ونه کړې او په مرغه به هیڅ ونه شي.

زړور بیرته لینده راښکته کړه او د سولې په لور یې مخ وراړوه، په زوره یې چیغه کړه: څه وایې زه خو هیڅ نه پوهیږم، د مرغه د دوو سترګو منځ په هوا کې په نښه کول خو څه اسانه کار نه دی. ته څه پوهیږې چې مرغه یوازې له هغه ځایه مري؟

سولې د خلکو په شورماشور کې دواړه لاسونه له خولې تاوو کړل او څومره یې چې کولی شوی په لوړ غږ یې ورغږ کړ: ځکه د هغه وجود د نورو الوتونکو له وجود څخه جوړ دی او که ته هغه ټپي هم کړې مرغه ته زیان نه رسوي. یوازې د سترګو منځ د مرغه خپل وجود دی.

زړه ور پوه شو چې کار یې نور هم سخت دی، یو خوا د ماشوم د مور اود کلیوالو چیغې او نارې وې، بل خوا ماشوم د مرغه په خوله کې لاس او پښې وهلې او هلته مرغان په زخمي حالت کې د ځمکې پر مخ رالویدل او چورلیدل.

زړه ور یوه پښه پر ځمکه کیښوده او بله یې ګونډه کړه، یوه سترګه یې پټه کړه، په بله سترګه یې مرغه په نښه کړ، هغه ته په خپله هماغه یوه سترګه کې د مرغه شاوخوا اسمان، د مرغه بدشکله څیره، د ماشوم خوځنده

لاس او پښې ښکاریدل. ده خپله سترګه نیمکښه کړه، اوس نو یوازې مرغه په نظر ورته، چې د یوې له اسمانه رالویدونکې ډبرې په څیر، ماشوم په خوله کې په چټکۍ د دوی په لوري ور روان و، سوله ورنږدې شوه، د زړه ور په اوږه یې لاس کیښود او د هغه تر شا ودریده او یو ځل بیا یې خپله خبره تکرار کړه، خو دا ځل ورو او د زړه ور په غوږ کې: پام کوه زړه وره چې د مرغه د سترګو منځ په نښه کړې! یوازې د دوو سترګو منځ.

استازي وویل: زړه وره نور هیڅ مه ګوره یوازې د هغه سترګو ته ګوره!


بوډۍ هم غږ پرې وکړ: زړه وره زویه! دا بده بلا درنه ژوندۍ پاتې نه شي، د ټولو خلکو سترګې تاته دي!

خلکو په شور ماشور کې وویل: راویې غورځوه! مه یې پریږده!

د ماشوم مور هم چیغې کړې: هله چې زوی یې رامړ کړ، څه ته ګورې وار پرې وکړه!

زړه ور د مرغه قهرجنو سترګو ته ځیر شو، بیا یې د مرغه د سترګو منځ ته وکتل.

هر څه یې هیر کړل او یوازې د هغه د سترګو منځ ته یې داسې کتل چې یوازې یو تور خال غوندې یو څه یې لیدل، لیندۍ یې په پوره قوت سره کش کړه، مرغه کوچنی ماشوم په خوله او په چټکۍ د دوی په لوري راروان و، زړه ور خپلې لاړې تیرې کړې، غشی یې وار کړ او بیا یې هماغسې په غشي پسې تر هغې کتل چې غشی د مرغه مخ ته ښه ورنږدې



شو، د استازي، هوښیارۍ بوډۍ، سولې او کلیوالو نفسونه په سینو کې قید شوي وو، ټولو له حیرانۍ نه په خلاصو خولو په غشي پسې کتل، چې اوس مرغه ته ډېر ورنیږدې شوی و.

چټک غشی مخامخ ولاړ او د مرغه د سترګو په منځ کې ولګید. د مرغه له خوله کاغ کاغ وخوت، ماشوم یې له خولې خطا شو او په ځمکه ولوید، د ماڼۍ د انګړ پوټۍ شووخاورو دوړه وکړه. د دوړو په منځ کې خلکو هیڅ هم نه لیدل، دوړه ورو ورو کښیناسته او له دې سره د مرغه بڼکې په هوا کې ښکاره شوې چې د مرغه د وجود له برخو سره ټوټې ټوټې پر ځمکه راپریوتې. دا یوه حیرانوکې شیبه وه. ټولو په حیرانۍ ولیدل چې له مرغه څخه د څو بڼکو او یوې ډبرې پرته بل هیڅ پاتې نه شول. عجیبه خو یې لا دا چې د کنډوالې په انګړ او شاوخوا کې په

بد حالت کې خوځېدونکي مرغان یو دم له خپلو ځایونو پورته شول او اسمان ته رک روغ په داسې چټکۍ وختل او په الوتو شول لکه چې هیڅ هم نه وي پرې شوي.

د خلکو چیغې، د مرغانو کرغې او د بد مرغه مرغه اواز ټول یو ځای غلي شول او داسې ښکاریده لکه له یوې ډیرې مودې وروسته چې د دې خلکو غوږونه په کرار شوي وي.

ټول ډیر ویریدلي وو، د هیچا له خولې غږ نه راوت، څو شیبې ټول همداسې غلي وو، تر څو چې د هغه ماشوم مور غږ وکړ: زما زوی! زما بچی، زوی مې څه شو؟

ټولو ته ماشوم ورپه زړه شو، ماشوم د خاورو دوړو په منځ کې پروت وو او ډیر ویریدلی و. د مور سترګې یې پر ولګیدې یو دم یې ورمنډې کړې او هغه یې په غیږ کې واخیست. ماشوم چې تر هغه دمه یې له خولې غږ نه خوت، یو دم په ژړا شو او خپل لاسونه یې کلک د مور تر غاړې راتاو کړل. مور یې د ماشوم سر او مخ ښکل کړل او په ژړا یې نارې کړې هلۍ مرسته وکړئ زما پر زوی څه شوي؟

بوډۍ ورغله ماشوم یې د هغه د مور له غیږې را واخیست ،بیا یې ماشوم سر تر پایه لټ په لټ ولید، مخ یې د ماشوم مور ته ورواړوه او وې ویل: لورې غم مه کوه! زوی دې ښه دی یوازې لږ ډار شوی، مرغه ځمکې ته نږدې هغه له خولې خوشې کړ، مه وارخطا کیږه.

خلک له دې پيښې څخه ډير ډار شوي وو، هغوی نه پوهيدل چې د خپلې ويرې او بد حالت پړه د چا په غاړه واچوي، په دې وخت  کې يو کليوال په لوړ اواز وويل: دا ټول زموږ د پاچا د بې پروايۍ له امله ده، پاچا هيڅکله زموږ په اړه فکر ونه کړ او خپل ژوند په خوښۍ او خوشحالۍ تيروي.

موږ ته لا پخوا زموږ نيکونو ويلي و، چې يو وخت به په دې وطن کې سوله ورکه شي او داسې حالت به راشي چې هيڅوک به په امن کې نه وي. هغوی ويل چې يوازې پاچا به مو له دې بدې ورځ خلاصوي، خو پاچا مو چيرې دی چې زمونږ غم وخوري.


خلکو ټولو د خپل کليوال خبره سمه بلله، ځکه خو ټولو په لوړ غږ د پاچا ملامتول شروع کړل.

د بوډۍ سر  د خلکو په خبرو خلاص شو چې څنګه يې ويل سوله او پاچا دا حالت سمولی شي. هغه مخامخ د خلکو مخې ته ودريده او په لوړ غږ يې پر خلکو غږ وکړ: هې خلکو تاسو ته وايم! د يوې شيبې لپاره غلي شئ!

هيله کوم زما خبرو ته غوږ شئ!

خلک ورو ورو ټول غلي شول چې د بوډۍ خبرې واوري. بوډۍ وويل: زما په گمان داسې هم نه ده لکه تاسو چې وايئ، تاسو ته نه ښاييدل چې د خپل پاچا په تمه پاتې شئ او د خپل ژوند د ښه کيدو لپاره هيڅ هم ونه

کړئ. که تاسو همداسې د خپلو ستونزو او ناخوالو ملامتیا په نورو واچوئ او خپله هیڅ هم ونکړئ نو په دا ډول مصیبتونو کې به بند پاتې کیږی.
تاسو دا وګورئ! دا څومره موده ستاسو اسمان مرغان نه درلودل او تاسو دا ویل چې دا ستونزه باید پاچا درته حل کړي، خو که نن همدا ستاسو پاچا او د هغه ملګری استازی په وخت نه وو رارسیدلي او دا مرغان او زما لمسۍ سوله یې نه وای ژغورلې، نو دې بدمرغه مرغه به ستاسو او دې



بیګناه مرغانو ژوند څه چې د ټول ملک د خلکو ژوند به یې له منځه وړی و. تاسو به بیا هم په دې تمه وئ، چې پاچا مو مرسته وکړي. بل دا چې تاسو د ملامتیا پرځای له خپل ځوان پاچا، زړه ور څخه مننه وکړئ.
خلکو ټولو د زړه ور او استازي په لوري وکتل. هوښیاره بوډۍ ورغله او

د هغوی په منځ کې ودریده او د زړه ور پر اوږه یې لاس کیښود: هو! دا ستاسو ځوان پاچا زړه ور دی او دا بل یې چې زما دې بلې خواته ولاړ دی د هغه ملگری او مرستیال دی، استازی.

کلیوالو چې تر اوسه یې گمان کاوه د دوی نوی پاچا یو بې پروا کس دی چې د خپل رعیت په اړه هیڅ فکر نه کوي او دا ټول مصیبتونه او بلاوې چې د دوی په ژوند کې راغلي د همدې پاچا له لاسه دي، حیران شول.

ټولو د پاچا صاحب مننه! تا زموږ په وخت مرسته وکړه! ته په رښتیا یو زړه سوانده پاچا یې! موږ ته سم نه وې پیژندلی، غږونه پیل کړل.

د ماشوم مور چې خپل په خاورو سپیره ماشوم یې په غیږ کې نیولی وو، زړه ور پاچا ته ورغله او په ژړا یې ورته وویل: ډیره مننه، که ته نن نه وی نو خدای خبر چې زما زوی به ژوندی پاتې و که نه.

د بچي په اوریدو سره د پاچا زړه ور ذهن ته یو څه ورغلل او په داسې حال کې چې سترگې یې یو لور او بل لور اړولې، په بیړه یې وویل: د مرغه بچیان، هگی...

سولې د استازي او بوډۍ په لور وکتل او څلور واړو په بیړه د کنډوالې خواته ورمنډې کړې. په کنډواله کې د مرغه هگۍ په خوځیدو وې او داسې معلومیدل چې اوس به د مرغه بچیان له هگیو راووځي.

بوډۍ وویل: هلې ژر کوئ، وخت لږ پاتې دی او نږدې دی چې د مرغه بچي له هگیو راووځي.

سوله له مانۍ را ووته او په خلکو یې غږ وکړ: هلۍ ژر کوئ چې هګۍ له منځه یوسو.
خلک چې نه پوهیدل د هګیو خبره څه ده، ویې پوښتل: د څه شي هګۍ؟ مونږ خبر نه یو.
سولې په لوړ اواز وویل: د مانۍ د ننه د همدې مرغه هګۍ دي، چې دا ډیره موده یې هغه پاللې، په څو شیبو کې به ترې بچي راووځي او که د مرغه بچي له هګیو څخه رابهر شول نو ستاسو د سیمې ټول اسمان او بیا به د ټول وطن اسمان ونیسي. هغه وخت به هیڅ بل مرغه ژوندی پاتې نه شي او د مرغه نوی بچي به څو ځله له هغه څخه قوي او پیاوړی وي چې د هغوی وژل به د انسان له واکه وتلي وي، هغه وخت به بیا مونږ هیڅ هم نه شو کولی.
هلته د مرغه هګۍ نورې هم په خوځیدو شوې او ځینې بد رنګو مرغانو خو لا له هګیو سرونه هم راویستل. هوښیارې بوډۍ غږ وکړ: هلۍ ژر شئ! خاورې او ریګونه راوړئ چې د مرغه هګۍ پرې پټې کړو.
خلکو په منډو منډو په لمنو، ټادرونو، ټیکریو، خولیو او هر څه چې یې په لاس ورتلل د کنډوالې له انګړ او شاوخوا څخه خاورې راوړې او د بوډۍ په مشوره یې هغه په هګیو ور اچولې. په لږ وخت کې ټولې هګۍ په خاورو وپوښل شوې او کله چې بوډۍ ډاډه شوه چې ټولې هګۍ په خاورو پټې شوې دي، خلکو ته یې  وویل چې نور بس دي اوس له دې

هګیو موږ ته کوم خطر نشته.

یوه نجلۍ رامخته شوه، داسې معلومیده چې دهګیو لیدو ته ډیره لیواله ده او غواړي چې هغه له نږدې وګوري. هغې چې شاوخوا سترګې وغړولې نو هګۍ یې په خاورو پټې ولیدې، له بوډۍ یې وپوښتل: زړې انۍ، زړې انۍ! خاورې هګۍ او د مرغه بچیان له منځه وړی شي؟ بیا خو به هغه نه راژوندي کیږي؟

بوډۍ په مهربانۍ ځواب ورکړ: هو بچۍ! خاورې هګۍ دپ کوي او کله چې هګیو ته هوا ورونه رسیږي نو هغه له منځه ځي.

نجلۍ بوډۍ ته وویل: مننه انۍ، زه له هغه مرغه څخه ډیره ویریدلې وم، مرغه کوم د سره واسکټ هلک چې هوا ته پورته کړ، زموږ ګاونډی و. نږدې وچې هغه مړ شي.

بوډۍ د نجلۍ په ګړګوتي ګړګوتي ویښتانو لاس ور تیر کړ او ویې ویل: ته غم مه کوه بچۍ، هغه مرغه تاسو ته نور هیڅ ضرر نه شي رسولی.

پاچا زړه ور او استازي چې د هګیو په له منځه وړلو یې ارامه ساه اخیستې وه، د بوډۍ خواته ورغلل، پاچا زړه ور وویل: ترورې ګمان کوم نور زموږ کار دلته پای ته رسیدلی، که ستاسو خوښه وي نور به له دې ځایه حرکت وکړو ځکه د هغو نورو سیمو د ستونزو د حل لپاره هم باید یو فکر وکړو.

بوډۍ په پوره ډاډ ورته وویل: بیغمه اوسه بچیه! طبیعت په خپل کار ښه پوهیږي اوکله چې طبیعت ته واک ورکړل شي نو هر څه په خپله سموي.

دا ستونزې ځکه رامنځته شوې وې چې دې بدمرغه مرغه طبیعت ته یو لوی زیان وراړولی و او مرغان چې د طبیعت یوه لویه او اړینه برخه جوړوي ترې بیل شوي وو، طبیعت هم د غبرګون ښودلو لپاره دا ستونزې رامنځته کړې وې. اوس به له خیره د خدای په فضل هر څه سم شي.

استازي وویل: تروري نو ته وایې چې طبیعت د بې عدالتۍ له امله په قار و؟

بوډۍ ځواب ورکړ: زویه همداسې یې وګڼه! په طبیعت کې هر څه ګډوډ وو او سوله نه وه، طبیعت هم د خلکو په څیر سوله غوښته. اوس چې سوله طبیعت ته بیرته راګرځیدلې نو ورو ورو به هر څه سم شي.

خلک چې د پاچا زړه ور سره په خپل چلند ډیر پښیمانه وو، یو بل ته یې د سترګو په اشارو سره څه وویل. څلور، پنځه تنه مشرې ښځې او سپین ږیري رامخته شول، یو تن یې پاچا زړه ور ته په عذر وویل: ګوره بچیه! که ته پاچا هم یې خو په عمر کې له مونږ نه کوچنی یې او مونږ که کومه خبره کړې وي چې پر تا بده لګیدلې وي نو موږ وبښه.

پاچا زړه ور چې له ډیرې خوښۍ یې لاس او پښې ریږدیدل په بیړه یې وویل: نه، نه د څه لپاره ببښنه غواړئ، دا زما دنده وه چې ستاسو د ستونزو په حل کې مرسته وکړم. دا وطن زموږ د ټولو دی او ټول یې باید په اړه فکر وکړو.

یوې سپین سرې په ډیره پسته او مینه ناکه لهجه وویل: زویه داسې خو نه

کیږي، نن شپه له خپلو ملګرو سره زموږ میلمه شه چې پوه شو ته زمونږ نه خفه نه یې.

پاچا زړه ور بوډۍ ته مخ ورواړوه، بوډۍ د سر او سترګو په اشاره پاچا پوه کړ چې د خلکو خبره ومني.

پاچا هم وویل: سمه ده، اوس چې تاسو دا غواړئ نو مونږ به هم نن شپه ستاسو میلمانه شو.

۷

خلک ډیر خوشحاله شول ، پاچا او ملګري یې : استازی، هوښیاره بوډۍ او سوله یې په ډیر درنښت خپل کلي ته بوتلل.

دوی څلور واړو هغه شپه په ډیره خوشحالۍ له کلیوالو سره تیره کړه، د کلي شپون هغوی ته له خپلې میرمنې سره یو ځای خوندور خواړه پاخه کړل، د کلي ماشومانو ورته له باغونو خوندورې میوې راټولې کړې، پیغلو نجونو د سولې لاسونه په نکریزو ورسره کړل او هغې ته یې یوه جوړه نوې جامې هم په ډالۍ کې ورکړې.


بوډۍ ماشومانو ته د پخواني پاچا، د شاهي ماڼۍ د برم، په پلازمینه کې د ژوند، خپل ماشومتوب او ډیرو نورو شیانو په اړه کیسې وکړې، هغوی چې هوښیار وو د بوډۍ په خبرو یې فکر کول شروع کړل چې ډیر څه

ترې زده کړي او هغوی چې نه پوهيدل يوازې وايې وريدې او خوند يې ترې واخيست.

د کلي ځوانانو او هلکانو له پاچا زړه ور او استازي سره د تيرو اچولو سيالي وکړه، د کلي زاړه ربابي ورته د رباب زنګونکې نغمې وغږولې او په دې توګه يې په کلي کې يوه په ياد پاتې کيدونکې شپه يې جوړه کړه چې ټولو ته خوندوره وه.

سبا سهار ټول کليوال د خپل پاچا او ورسره ملګرو د مخه ښه لپاره په لاره کې ولاړ وو، پاچا خپل سور بخون اس (بخمل) سولې ته ورکړ تر څو پرې سپور شي. استازي هم خپل چابک اس تر پړي نيولی وو او هوښياره بودۍ سره له زړه ور پاچا په څنور اس پسې روان و. د کلي خلکو يو ډير غښتلی اوښ هوښيارې بوډۍ ته په ډالۍ کې ورکړ تر څو چې هر کله له پاچا سره په سفر ځي نو هغه اوښ د دوی د ډالۍ په توګه ورسره وي او د هغه ماشوم مور چې تيره ورځ مرغه ژوبل کړی و، ټوله شپه يې په ويښه تيره کړه تر څو د پاچا او ملګرو لپاره يې خوندورې پتيرې پخې کړي، هغې پتيرې په يوه ګلداره دسمال کې سولې ته وسپارلې، سولې هغه د بخمل په خورجين کې واچولې. د کليوالو مننه او خدای پاماني همدومره اوږده وه لکه څومره چې ټولې خدای پامانۍ اوږدې وي.

دوی څلور واړه له هغه کلي څخه خوښ او خوشحاله وخوځيدل. خو لکه څنګه چې خبرونه پټ نه پاتې کيږي، د نورو کليو خلک هم د مانۍ



له ویرونکي مرغه، پاچا او ورسره کسانو له کارنامو خبر شوي وو، هغوی هم په لاره کې د پاچا د هرکلي او خدای پامانۍ لپاره ګلونه شیندلي وو او په خپله هم په خوشحالۍ او چکچکو د پاچا پر لاره ولاړ وو.

ټولو د خوښۍ نارې او شپیلکې وهلې، هغوی پر ورسره کاغذونو او تختو د پاچا د هرکلي لپاره یو څه لیکلي وو او له هرې خوا یې په لوړ غږ همدا نارې وهلې: پاچا دې ژوندی وي! زموږ ګران پاچا مننه!

پاچا زموږ طبیعت ژغورلی...

یوه زلمي په یوه لویه  تخته لیکلي وو: طبیعت سوله غوښته، پاچا سوله راوسته!

د استازي دا خبره ډېره خوښه شوه، سر یې لږ راښکته کړ او په زلمي یې غږ وکړ: اې هې ځوانه! دا تخته ماته راکوې؟

ځوان په خوشحالۍ تخته ورکړه او استازي هغه تخته هسکه په لاس کې ونیوله. له دې سره ټولو خلکو په یوه غږ نارې کړې: طبیعت سوله غوښته، پاچا سوله راوسته! مننه سولې!

د نورو خلکو په لاسونه کې هم په تختو او کاغذونو لیکلې ښې ښې خبرې وې لکه: مور، له پاچا مننه کوو! مور، ژمنه کوو چې نور به خپله سوله په خپله ساتو! مننه پاچا دلته هر څه سم دي!

پاچا او ملګرو یې شاوخوا وکتل په هغه سیمه کې نور د ورپیښې بدمرغۍ څرک نه ښکاریده، ځمکه د نورو سیمو په څیر خپل لومړني حالت ته راغلې وه، یعنې د نورو سیمو په څیر ونې شنې، پټي له وښو او کرلو سابو او ترکاریو ډک او وریځې د غرونو پر سرونو د باران د وریدو لپاره چمتو ولاړې وې.

همدارنګه دوی د بې موسمه سیمې څخه را تیر شول. په هغه سیمه کې هم هر څه سم شوي وو او لکه د نورو سیمو په څیر هلته هم پسرلی و.

دلته هم خلکو د پاچا او ملګرو یې تود هرکلی وکړ، د دې سیمې خلکو په زوره زوره نارې وهلې او د سترې مشي تر څنګ یې دا ویلې: مننه پاچا! مننه سولې! مننه انی! مننه ملګریه!

(زړه ور به استازي ته د خلکو په مخ کې ملګری غږ کاوه.)

دوی چې له بې موسمه سیمې راتیر شول نو د هغې خړې سیمې وار رارسیدلی و چې هر څه یې د خاورو په څیر خړ او سپیره وو. خو هلته

په رسیدو دوی یو ځل بیا حیران شول، ځکه دلته هم هر څه سم او خپل طبیعي حال ته راګرځیدلي وو. ونې شنې، میوې په خپلو رنګونو، غرونه د تیږو له رنګه توربخون ابي، کورونه د خاورو له رنګه خړ، د خلکو رنګونه هم د هغوی د ربښتینو څیرو په څیر و.
دلته هم خلک د پاچا له کارنامو خبر او پوه شوي وو، چې د هغوی په سیمه راغلی د خړ رنګ مصیبت پاچا له منځه وړی و. دوی هم ټول واړه او زاړه، ښځې او نارینه د پاچا او ورسره کسانو هرکلي ته راوتلي وو.
دلته هم دپاچا د سر سلامتۍ او د هغه د کارنامو نارې وهل کیدې. استازي چې د خلکو تود هرکلی ولید، ورسره تخته یې هسکه په لاس کې ونیوه چې پرې لیکلي وو: طبیعت سوله غوښته او پاچا سوله راوسته!
استازی د بوډۍ تر څنګ روان و ورو یې ترې وپوښتل: ترورې موږ له پاچا زړور سره له څو غرونو او سیندونو راتیر شوو او مرغه مو وواژه تر څو د خلکو ستونزې حل کړو خو دلته خلک یوازې له زړه ور څخه مننه کوي او کوم یو زما، ستا یا هم سولې نوم نه اخلي، دا ولې؟
بوډۍ وویل: هو که سولې زړه ور ته نه وی ویلي چې مرغه د سترګو په منځ کې وولې، یا هم د مرغه هګۍ څومره خطرناکې دي، موږ به هیڅ کله هم په دې اړه نه وی پوهیدلي. تا هم په هر ګام کې د خپل ملګري مرسته وکړه، ته وې چې د مرغه ځای دې وموند.
دا خبرې پاچا او سولې هم واوریده، دواړو استازي ته وکتل او ویې

خندل، سولې وويل: ته هيڅ نه يې بدل شوی، هغه وخت دې هم په هر څه کې بخيلي کوله.
استازي په لوړ غږ وويل: نه! دا بخيلي نه ده، خو اخر زه هم ډېر ويريدلی وم، ما هم له مرغه سره جګړه وکړه.
بوډۍ يې خبره پرې کړه: زما بچيانو! کله چې يوه ډله يو ځای کوم کار کوي نو د هغې کار پايله د ټولې ډلې لپاره مهمه وي، که د ډلې هر کس ياد شي نو وياړ يې د ټولې ډلې لپاره وي. بل دا چې موږ ته پايله مهمه وه کوم چې تاسو ټولو وليده او ډېره په زړه پورې وه.
زما بچيانو! تاسو هر يو د دې نيکمرغۍ په تر لاسه کولو کې اتل ياست او زه په تاسو وياړم. زړه ور پاچا د بوډۍ مهربانه سترګو ته وکتل او وېې ويل: ترورې د دې نيکمرغۍ اصلي اتله تاسو ياست چې تل مو سمه لاره راښوده.
دوی ورو ورو خپل ښار ته ورسيدل، چيرته چې په شاهي ماڼۍ کې د خوښۍ د جشن تياري نيول کيده او د ښار خلک ټول د دوی هرکلي ته راوتلي وو.
پاچا له استازي وپوښتل: خلک خو زموږ له تګ څخه نه وو خبر، اوس څنګه پوه شول چې موږ له کومه ځايه راستانه شوي يو؟
استازي خپل ورمېږ وګراوه او وېې ويل: څه ووايم، زما ملګريه! تاته خو معلومه ده چې زما کار خبر رسول دي، ما دوی ته د هماغه زړې ماڼۍ له

کلي، د یوه ښار ته راتلونکي کس په خوله احوال رالیږلی و چې موږ له سولې سره یو ځای در روان یو.
خلک پر بامونو، لارو او کوڅو کې د پاچا هر کلي ته ولاړ وو، کومه خوا چې لمر په ډوبیدو و له هماغې خوا پاچا، هوښیاره بوډۍ، زړه ور او سوله راښکاره شول، اسونه یې تر ښا روان وو او خلکو چې دا له برمه ډکه ننداره لیده په یوه غږ یې نارې کړې، ژوندۍ دې وي سوله! ژوندی دې وي پاچا، ژوندۍ دې وي طبیعت!
دا کیسه چې خلاصیده ما د هغه ښار خلک ولیدل چې په ډیرې پاملرنې یې د خپل طبیعت ساتنه کوله او د غرونو د وطن په لویه دروازه یې لیکلي وو: (سوله زموږ او د طبیعت اړتیا!)